# د پیچومو لارو

لیکوال: سلطان عزیز عزام

هغه زرین زړه وړونکی حقیقي داستان چې
سلطان عزیز عزام په خپل لاس خپل جهادي ژوند
او د اوسني اسلامي دولت تصویر پکې منعکس کړی.

بسم الله الرحمن الرحيم

# فهرست

د ناشر سريزه ........................................................ 2
د ليکوال سريزه ........................................................ 5
يو ځل بيا د خراسان د مقدسې خاورې په لور........................ 23
د هجرت تلپاتی عزت.................................................. 31
له معنويت او سکون ډکه ژوند...................................... 43
مونږ او خلافت غږ البيان راډيو....................................... 50
واورې، غرونه، زه او توحيدي .................................... 59
زمونږ مظلومه راډيو، د امريکايانو بمبارونه او د طالبانو اتهونه!..... 72
حسان، محسن او راډيو له بمباره وروسته ............................ 83
شاهين او طوطي ...................................................... 92
کروزونه، عام بمبار او وحشتونه ...................................... 102
د بمونو مور او د ايمانونو زور ........................................ 107
د مهاجرو خويندو صبر، ثبات او ايماني جذبې......................... 119

## بســـم الله الرحمن الرحـيم

## د ناشر سريزه

## د پېچومو لاروی!

د سپين غر د غره په واورينو او شنو ځوکو او درو کې چې د څه پـه لور د اسلامي خلافت مجاهدين قدم اخلي او د هغه څه لاسته راوړلـو لپاره چې دوی شپه او ورځ لالهانده ګرځي، ددغه مسير سفرونه زيات پېچومي او ګړنګونه طی کوي چې د لارويانو قدمونه يې نا آشناء نښې تر شا پرېږدي، ددې ځای زړه راښکونکي واقعات، خاطرې او عجيبې کيسې د مؤمنانو لپاره عبرتونه او درسونه بيانوي چې اوريدل او لوستل يې د هر مؤمن له سترګو اوښکې بهوي!

د جهاد له صف څخه د مجاهدينو د ژونـد انعکـاس، ددوی د هجـرت کيسې او دلته ددوی د نا آشنا ژوند بهير او د حالاتو بيـان چـې د نـوي راټوکيدلي خلافت په تاريخ کې لومړی ځل دی چې له خراسان څخـه د قلم او د دعوت د ډګر اتـل سـلطان عزيـز "عـزام" لـه لـورې ليکـل کيږي، ان شاءالله لوستونکو ته عجيب او غريـب پيغامونـه درلـودلی شي!

پدغو شنو او زرينو لمنو کې د هر م`جاهد ژوند يو نا آشنا داستان لري، د هر شهيد موسکي وارثين او دلته د هر مؤمن ورور او د هرې مؤمنې خور ساده او ابتدائي ژوند چې له سختيو او مشقتونو سره ترلي امت ته د آخري ځل لپاره د راپاخيدو ابتدائی غږونه کوي، دلته د غمونو او ربړو په سيلابونو کې د مجاهدينو د موسکا تر شا داسې داستانونه پراته دي چې په هر داستان لپې لپې اوښکې بهيدلی شي، ددې ځای عجيب او غريب حالات، له فقر او مشقتونو سره سره د غره په څير حوصلې او دلته له ژوند سره د مؤمنانو د عجيب تعامل لړی پداسې انداز کې روانه ده چې زمونږ د تير او با عزته تاريخ شيبې راژوندی کوي.

ما چې کله د يوه مجاهد له خولې د يوې خور د نکاح کيسه واوريده چې د مهر په ډول يې له خپل خاوند څخه د څلويښتو احاديثو زده کول وغوښتل نو بې اختياره مې له سترګو اوښکې ورته راغلې!
څومره بختوره! څومره عاجزي او پدې غوښتنه کې څومره لوړ او باعزته سيرت پروت دی چې غافل امت ته په زرګونو پيغامونه لري خو ای افسوس چې په مليونونو ککريو کې يوازې د ګوتو په شمير غوږونه دي چې اوريدل کوي!

دلته د هر مؤمن او د هرې مؤمنې خور په ژوند کې هغه څه نغښتي چې هر لفظ یې ویده امت ته نوي نوي عبرتونه ورکوي، دلته زمونږ یتیمان په وچو او موسکو شونډو دداسې برم او عزت د ژوند هوډ لري چې د نړۍ ښکرور ګوته په غاښ ورته ولاړ دي او همدا علت ده چې دغه وحشي کفار او ددوی غلامان له هیبته په همدې معصومو خویندو او ماشومانو کروز توغندي، کیمیاوي اسلحې او سپین فاسفورس استعمالوي، نو دداسې اعظمي تکرونو او ورسره د مجاهدینو د موسکا تر شا عجیبې او غریبې کیسې پرتې دي چې کتابونه کتابونه پرې لیکل کیدای شي!

د پېچومو د لاروي په نوم دغه لړۍ چې د سلطان عزیز "عزام" په قلم لیکل شوی، په حقیقت کې د کفارو په خلاف یو بل ټینګ سنګر بولم چې ددوی د کاذبې میډیا خور کړل شوی فکري طلسم به له بربادۍ سره مخ کړي بإذن الله، چې د دعوت په ډګر کې انتهائي زیات رول لوبولی شی.

- د کتاب ناشر -

## د ليکوال سريزه

ماشوم وم په وطن کې روسان و، د پېښور د اضاخيلو په پنډغالي کې مو کور و، د کمشنرۍ مکتب کې وم، څلورم ټولګي کې به وم چې شعر، شاعرۍ او ادب سره مې ډيره مينه وه، ترانې به مې خوښيدې او لوستې، ښه راته ياد شي چې قضاء مازديګر به د کيمپ ماشومان دوه ډلې شول، يوه د مجاهدينو ډله او بله د خلقيانو، زه به اکثره د مجاهدينو د ډلې قومندان وم، له لرګو څخه په جوړو ټوپکونو به مو سره يو بل په نښه کول، د کيمپ خاموشه کوڅې به مو هر ماښام د تکبير په زمزمو او انقلابي ترانو ژوندۍ ساتلې، مکتب کې به يې هم د سپورټ په ساعت کې راباندې همدا د جهاد او سنګر لوبې کولې، حجره مو هم سنګر ته د تلونکو راتلونکو مجاهدينو دمه ځاې و، هلته به مې هم د غر، سنګر او شهادت کيسې اوريدې، جهادي فکر او روحيه راسره له ماشومتوبه مله وه او له انقلاب سره مل رالويېدم!

کله چې بيا کلي ته راستانه شوو نو خبره بدله شوه روسان مات و، خو د اسلامي نظام د راتګ آرمان ميرات و، کله چې له روسيې د کميونېزم راوتلي خونړي سيلاب زور کيناست نو له امريکا څخه د

ډیموکراسۍ سیلۍ راوالوته، زما د آرمان د ناوې له سره یې د مختلفو ارزښتونو په رنګینو ګلونو جوړه لوپټه هوا ته پورته کړه، د خواهشاتو او نفسي جذباتو په یاغي څپو کې له مکتبه فارغ او د پوهنتون په وره ورننوتم، دا هغه مهال و چې لیکنې مې کولې او زیات مینه وال یې لرل خو اکثره به د لیکنو موضوع راسره نه وه، له ځانه به چاپیره وم خیالي کیسې به وې، خو مینه وال یې له حده زیات و، هلته به مې کلتوري او عشقي لیکنې کولې، د مینه والو هڅونه او ستاینه خورا زیاته وه، خو زړه به مې پرې اوبه نه څښلې، همغه د ماشومتوب د ژوند کیسو او انقلابي احساس به مې په ذهن سکوندارې لګولې او ډیر به مې زړه کېده چې انقلابونو سره ولوبېږم او لیکنې وکړم او د یو سرلوړي اسلامي نظام ارمان به مې هر وخت په زړه کې جذبې ژوندۍ ساتلې آخر مې هم دغه ارمان پوره شو الله عزوجل رابانـدې د اسلامي دولت تمکین ته د هجرت لوروینه وکړه، دلته نو بیا زما ذهن غزونې او پنځونې پیل کړې، هره شیبه د خاطرو او کیسو څخه ډکه وه، دلته نو د لیکنو موضوعات خورا زیات او زما په زړه ول، خو د لیکنې وخت راسره

نه و، کله کله مې یوه موضوع د خپلې اړتیا له مخې لیکنې ته مجبور کړي خو لا مې هم کار ورته ندی ویلی.

یو وخت مې یو استاد ملگری میلمه شو، مشر۔زوی مې چې د دیارلسو کالو په عمر و، حجرې ته راغی نو میلمه راغبږ کړ چې هلکه مبارک شه د سباؤن اوږې خو ماشاءالله د گردنۍ ترلو ته جوړې شوي، ماترې مننه وکړه.

میلمه خبره وغځوله او زیاته یې کړه چې: وروره د لیکنو درک دې نشته، د الله بنده لږ ځان وخوځوه ددې ځای په ژوند لیکل وکړه، یونلیک ولیکه، یو ناول باندې کار وکړه.

ورته مې وخندل: ښه نو د کیسې اتل به مې ته یې؟

په ما څه کوې همدغه سباؤن ستا د کیسې اتل دی خو که ته فکر وکړې!

یاره ښه دې وویل!

په همدې فکر کې وم چې زما ماشوم زوی د امریکایي ډرون خونړي گوذار وخوړ، خو بیا مې هم لیکنو ته گوتې تخنبدې، ځکه چې دلته لله الحمد هر جهادي سفر یونلیک دی چې گڼ پیغامونه لري او هره موضوع یوه کیسه ده چې تر شا ستر ستر

آرمانونه لري، نو دا دی د (پېچومو لاروی) اوس زما دويم دولس کلن زوی امید عزام دی!

دا زما د جهادي يون، يونليک بولئ او که د انقلابونو په غيږ کې د لوبيدونکي "امید" د هجرتونو او سنګرونو د ژوند نيمګړی داستان يې ګڼئ چې "امید" به يې بإذن الله زما له شهادته پس پوره کوي.

راځئ! نو د صليبي داړه مارو د لسګونو جنګي طيارو په سيوري او بمبارونو کې د سپين غر د واورينو غرونو په کږليچونو د پېچومو د لاروي سره پل په پل د اسلامي دولت د قيام په لاره کې له معنويته او عظمته د ډک ژوند د جلال او جمال د منظرو ننداره وکړئ.

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وعلى آله وصحبه اجمعين!

سلطان عزيز "عزام"

ربيع الأول – ۱۴۴۰ هجري قمري

عقرب - ۱۳۹۷ هجري شمسي

نومبر - ۲۰۱۸ ميلادي

## د اسلامي خلافت غېږې ته!

د موټر په مخامخ شیشه د مازدیګر د ژیړې لمر وړانګې هغه مهال پوره راداخلې شوې چې له یوه خوږه په نرۍ لاره یوې پراخه دښتې ته ورپورته شولو، دښته خورا ستره وه، ځای ځای پکې رمې تر سترګو کېدلې، لرې د سپین غر په څوکو تازه واوره ورېدلې وه، له ښه شیبه مزل وروسته مې زړه کې یو ډول سکون او معنویت احساس کړ، له لار بلد ملګري مې پوښتنه وکړه: د خطر له ساحې خو به وتلي یو کنه؟

ډرایور د ترانو غږ ټیټ کړ.

څنګه؟

مال یو نا اشنا کیفیت احساسوم لاره ډېره ده که لږه؟ خطر خو به نور نه وي؟

ملګري وویل: استاده نور نو نږدې یو، ته دې خپل ښي طرف ته وګوره!

چې پام مې شو نو تور محمدي بیرغ په نږدې غونډۍ په پوره ویاړ خپل وزرونه وهل!

د غونډۍ له څنګه چې تیر شولو نو راسره ملګري مې ډرایور ته وویل چې استاده دلته لږ ودریږه!

ملګری ښکته شو او ښه شیبه په ګټو کې الله سبحانه وتعالی ته په سجده پروت و، چې راپورته شو نو سترګې یې لمدې وې او زمونږ څخه د اوښکو پټولو په ناکامه هڅه کې یې شونډې په ذکر خوځېدې، بې پوښتنې یې وویل قسم په الله چې ما مې د خپلو لیدلو خوبونو تعبیر وکوت دا خلافت په حقه دی، دې سره موټر ته راپورته شو.

پوره دوه ساعته په دښته کې له مزله وروسته موټر پاخه سړک ته لار بدله کړه شیبه پس مې چې شاته په تور سړک د موټر د ټایرونو خړو لیکو ته پام شو، مخې ته مې د ماښام د آذان غږ تر غوږه شو، مخ مې راوګرځاوه کلی نه ښکاریده،

د آذان نور غږونه هم رانږدې کیدل،

په حیرانۍ مې وپوښتل: د آذان دا خواږه آوازونه له کومه راځي دلته خو کوم کلی هم نه تر سترګو کیږي ؟

ملګري راته وويل: په دغه ګرځندي کې چې تاو شوو نو لاندې د کوټ لاغرجوی منطقه ده!

مونږ لا په همدې خبرو کې وو چې له بره مې په يوه شنه دره سترګې ورخښې کړې، زه چپ لور ته د کوټ د ښکلې درې په ننداره بوخت وم، چې موټر ودريد، نري دنګ ځوان تورې اوږدې څڼې د موټر په ښيښه رادننه کړې يو خوږ سلام يې وکړ، له نورو ملګرو وروسته يې په ډېره سخته ما ته د ګوتو څوکې راورسولې تود روغبړ يې وکړ.

ويل يې ملګرو جمع تياره ده که لمونځونه مو نه وي کړي نو هغه دي ملګري ولاړ دي!

لږ وړاندې اته يا لس کسه په يوه متور زلمي پسې په ډېره عاجزۍ د ماښام په لمانځه ولاړ ول، مونږ هم په جمع ورشريک شولو، په لمړي ځل مې دومره اوږده لمانځه کې د سجدو او قيام څخه خوند واخيست او معنويت مې ځنې حاصل کړ، له سلام ګرځولو پس ښه شيبه د ټولو سرونه ښکته شول او تر ډېره په اذکارو بوخت ول، په کراره کراره ملګري يو بل پسې راپورته شول او مونږ ته يې کلکې غاړې راکولې، څو کسانو يې وپيژندم.

د الله بنده ته او دلته، ماشاءالله!

له لمانځه چې فارغ شولو نو يو تن سره له ټوپکه د موټر په ډاله کې راکښيناست، که څه هم مونږ ورته ډېر د مخکې د کښيناستو وويل خو ويل يې چې تاسو نه تنګوم.

له پاتې ملګرو پرې يوه راغږ کړ، وروره ميلمانه د حاجي صيب مرکز ته بوزه!

نوره لار په خاموشۍ لنډيده، موټر له يوه پاخه پله څخه واوښت، او په خام سړک ورښکته شو، له بازاره چې تيريدلو نو څه دوکانونه خلاص او څه د خلاصيدو په حال کې و، د ماښام له لمانځه خلک په بازار راداخل شول، زموږ ډرايور چې د همدې ځاي اوسيدونکی و بې پوښتنې يې وويل: دا د سرای بازار دی، کله هم چې د جمعې وخت شي نو بازار بند شي، ټول خلک جمعې ته روان شي، له کومه وخته چې د خلافت مجاهدين راغلي نو د دوکانونو اکثره سوداګانې د شپې هم بهر پرتې وي او څوک ګوتې هم نه وروړي.

ډرايور چې ښه شېبه د مجاهدينو په صفت بوخت و چوپ شو، موټر يې د يوې لويې کلا مخ ته ودراوه، چې شاته مجاهد پسې د ډالې خلاصولو لپاره تاويده نو په کوزيدو کې وويل: راورسيدو له خيره، دا د حاجي صيب عبد الاحد مرکز دی.

(حاجي عبدلاحد د بتي کوټ يو تکړه مجاهد قومندان و چې وروسته بيا شهيد شو).

موږ هم چې له موټره راښکته کېدو نو ګڼ ځوانان د کلا په لويه دروازه راووتل، اکثره مې وپيژندل، دې مجاهدينو سره مو شپه ډيره په خوند سبا کړه حاجي صيب مو ډير اکرام وکړ، سهار له لمانځه پس يو مجاهد د جومات په انګړ کې د يوه بل تن په مخ کې په زنګنونو آرام ناست و، شاته ولاړ کس په لاس کې دُره وه چې هر ګوذار به يې شماره، کله چې لس دُرې پوره شوې نو ناست کس اوچت شو او دواړه سره په خندا ورغاړيوتل،

ما پوښتنه وکړه: دا يې په کوم جرم وواهه؟

حاجي صيب موسکی شو: دا لږ لټ دی د سهار لمانځه ته ناوخته راځي، څو ځل ملګرو ورپوهاوه خو په دعوتونو سم نشو نن د حسبې قاضي صيب تعزير ورکړ.

زمونږ اراده وه چې سهار وخته مامند ته حرکت وکړو، خو چې کله چايو ته کښيناستو، نو له نورو مرکزونو څخه هم مجاهدين راټول شول، اکثره يې بلدي ول.

ټول راته ډیر خوشحاله شول، مونږ یې په شنه زور غرمې ته ایسار کړو، ماسپښین له لمانځه وروسته موټر د شنو پټو په منځ کې په تازه جوړه شوې لار ورسم شو، ډرایور یو ځل بیا خبرې شروع کړې ویل یې: "دا مخکې هسې پوله وه د موټر لار نه وه ددې کلي خلک سخت تکلیف کې ول، بیا د مجاهدینو په غوښتنه ددغو پټیو مالکانو هر چا د خپل پټي لږ لږ سرونه وقف کړل او اوس الحمدالله مجاهدینو پکې ښایسته سړک تیر کړ" .

لږ وړاندې موټر په یو پیچومي زګیروي کول او په ډیر تکلیف مخ بره خاته، مونږ ورته وویل: استاده که نه خیژي نو موږ به یو څو کسه ښکته شو!

نه ددې نه په سختو غرونو خیژي هسې خو مې پرې درې لکه ندي شمارلي.

موټر په پوره زړه چاودون د غونډۍ سر ته پورته شو، استاد ښي لور ته یوه شنه بڼ ته اشاره وکړه: "دا د الیاس بابا زیارت و، خلک به ورته له لرې ځایونو راتلل او ددې نه یې د حاجتونو پوره کیدو سوالونه کول، هغه مخکې ورځو کې مجاهدینو ولس راټول کړ ورته یې وویل: حدیث شریف کې راغلي چې په قبرونو به جنډې او جنګلې نه

ودروئ او د قبر نه به سوالونه نکوئ، مجاهدين ورغلل د زيارت نه يې کتارې او جنډې پاکې لرې کړې".

ډرايور ډېر د طبعې سړی و، په لاره ورسره بيخي تنگ نه شولو، لاره کې څو ځايه په نورو کگلېچونو ورتېر او په پېچومو ورپورته شولو، آخر موټر د اسدخيلو په شين او تنگ تنگي وررننوت، د سړک لاندې د انارو په شنو باغونو کې د رېو اوبو ډکو ويالو نظرونه جلبول، شيبه مزل پس خوړ ته ښکته شولو، پاخه پله ته نا رسيده د سپينو گټو منځ کې دوه څېور غازيان د رېو اوبو ترخنگ په شنو کبلو کې د مازديگر په جمعه ولاړ ول، يو تش دوه موټه راکټ يې مخې ته ستره کړي و، ملگرو ويل ورکوزيږو چې جمعه ورسره وکړو، ډرايور وويل ځای تنگ دی ټول نه ځائيږو، له پله پورې د مجاهدينو پاټک ده، هلته به جمعه وکړ.

پاټک ته چې ورسيدو نو زموږ په ور رسيدو دوه تنه مجاهدين راپاڅېدل، له سلام کلام وروسته يې په موټر کې کوز او بر وکتل!

مبايلونه لرئ؟

مونږ ورته وويل: هو!

ډرایور مونږ ته گوته ونیوله چې دا میلمانه دي.

ښه الله عزوجل دې حفاظت وکړي!

مونږ ته یې راوکتل: د مبایلونو نه سیم کارتونه لرې کړئ.

مونږ هم ژر ژر سیمکارتونه له مبایلونو وویستل،

لږ مخکې له موټره ښکته شولو، د چنار د دنگو ونو لاندې په پراخه چوتره مو د ماښام جمعه وکړه، د مامند په ښکلې دره ورداخل شولو، نرۍ خام سړک د پټیو ترمنځ تاو راتاو مخکې تللی و، د لارې دواړو خواؤ ته د کاڼو بارې ترل شوې وې او ور آخوا دواړو لوریو ته د بنگو وچ شوی فصل تر ډیر لرې تر سترگو کیده چې ځای ځای پټې هم سوځیدلې و، شپه مو په یوه مرکز کېښد مختلفو ژبو او سمتونو څخه له راټولو شویو مجاهدینو سره سبا کړه، سهار راته وویل شول چې د والي صیب نائب سره ملاویږو، یو ځای کې له موټره پیاده شولو، په یو پیچومي چې وختلو نو یو دنگ ځوان چې پاینڅې یې پورته او زاړه بوټان یې په پښو و، ټاپ او ټوپک یې غاړه کې و، خړ پکول یې د دنگې ځوانۍ او تورو اوږدو څڼو سره بلا مزه کوله، زمونږ مخې ته راغی ډیر تود روغبړ یې وکړ، دی مخکې او مونږ وروسې په تنگو کوڅو کې یوې حجرې ته وردننه شولو، تکیه گانې

يې راته سمې کړې، مخامخ راته کښيناست خبرې يې ډيرې خوږې او اغيزناکې وې، فکر مې کاوه چې اوس به نائب صيب ته ورځو دلته به انتظار يو، د طاغوت د واليانو او نائبانو غرور او ورسره د ملاويدو طرز او طريقه مې ذهن کې تاويده راتاويده چې ممکن ګڼ شڼور غازيان به په حجره راننوزي او د نائب د راتګ خبر به راکړي، زه په همدې کشمکش کې وم چې زمونږ مخې ته ناست ځوان چايو پسې لاړ، له ملګري مې پوښتنه وکړه :نائب صيب دلته راځي که مونږ ورځو؟

يو ملګرى په خندا شو نائب صيب همدا و کنه!

حيران پاتې شوم عجيبه ده، دا څه عجيبه ځوانان دي، حيرانونکې ده، زه خو داسې فکر کوم چې د اسلام ابتدائي دور بيا راستون شوى، نائب صيب چې بيرته راغى نو له لنډې مقدمې وروسته يې د اسلامي امت په اوسني وضعيت رڼا واچوله، د ځوانانو په مسئوليتونو وغږيده، ددغو ځوانانو د بې لارۍ په لاملونو يې خبرې وکړې، ددغه ټولو بدبختيو سرچينه يې رسنۍ وبللې او په مقابل کې د بديل په اړه وغږيده د ژورناليزم په مختلفو اړخونو يې بلا مالومات وړاندې کړل ما داسې فکر وکړ چې ګوندې ژورناليزم کې دوکتورا لري، زمونږ د کار په

ارزښت يې رڼا واچوله، او آخره کې يې اسلامي دولت تمکين ته د هجرت دعوت راکړ، د نوموړي هره خبره مو د زړه ژورو ته کيوتله، په دې ژمنه مو ترې رخصت واخست چې ان شاءالله دا ځل چې لاړم نو سره د کورنۍ هجرت کوم.

سهار مو له ځان سره وړي د راډيو تخنيکي وسايل د مامند لنډۍ کلي ته نږدې د لوړ غره په لمن کې په څېړيو پوښلې هغه غونډۍ ته انتقال کړل چې له مخکې پکې کوټه جوړه شوې وه، د ابو عمر تقبله الله په نوم مجاهد مو يو ځای رهبري کوله دی مخکې او مونږ ورپسې و، بره غونډۍ ته په ختلو کې مې ساه بې واره تله راتله، ابو عمر ډېر تيز روان و چې شاته يې راوکتل نو مونږ يې ډېر وړاندې پريښي وو، بېرته په خندا راستون شو، له مايې کوټ او دروند پټو واخيست خو بيا مې هم رالاندې نکړ، ټېټې غونډۍ ته په څو دمو وختلو، په لاره کې مې ملگرو ته ويل: نائب صيب مونږ دلته هجرت ته رابولي، مونږ خو دې غونډکۍ ساه په ساه کړو، په دې هسکو غرونو او ځنگلونو به څنگه ورخيژو، ملگري مې راته وويل: انسان ته الله عزوجل توفيق ورکوي، تاسي دې مزلونو سره نابلده ياستئ که پاتې شوئ نو بيا به درته دومره سخته نه وي.

د راديو آنتن مو لومړی په يوه څيړی کې وتاړه، ملګرو د راډيو ماشينونه سره وصل کړل، په بسم الله مو چالانه کړه، غږ يې وخوت خو ټرار يې کاوه، لومړی مو يوه عربي ترانه وغږوله او بيا احمد تقبله الله چې وروسته يې له راډيو څخه د جلال الدين وقار په نامه خپروني کولې مايک ته کښيناست، ماته يې وويل ته راته وښايه څه ووايم؟

ووايه! دا خراسان دی او تاسي خلافت غږ راډيو ته غوږ ياست!

احمد لومړی بسم الله وويله له لنډې خطبې او آياتونو د لوستلو وروسته يې چې پورته جمله تکرار کړه نو بهر ولاړو ملګرو يې چې له راډيو څخه غږ واوريده نو ټول الله عزوجل ته په سجده پريوتل، د راډيو په آواز کې ټرار په شنو بوټو کې د آنتن د تړلو او د مکسر او کمپيوټر ترمنځ د وصلوونکي تار د شارټې له امله و، ملګرو يې ډير ژر ستونزه درک کړه خو چاره يې د اوس لپاره ناشونې وه، بيا نو عربي انقلابي ترانې په خوند غږيدې او موږ له ښار سره رابطه وکړه چې څنګه کار کوي که نه؟

په ښار کې خصوصي ملګرو خوښي وښوده او ويې ويل چې هو کار کوي، خو غږ يې شور کوي.

راډیو فعاله شوه خو حیران وو چې چاته یې وسپارو او څوک به یې نشراتي چارې پرمخ یوسي، په همدې سوچونو کې و چې استاد فردوس بهار مو ذهن ته راغی، بهار استاد چې د هرات پوهنتون د ادبیاتو د ډیپارټمنټ آمر او ورسره جوخت یې په کابل کې ماستري کوله تازه یې هجرت کړی و، بهار په مختلفو راډیوګانو کې خپرونې هم کړې وې، احمد مولانا او بهار ته مو راډیو وسپارله او موږ ترې له دې ژمنې سره رخصت واخیست چې له ښاره به درسره پوره همکاري کوو، او له هغه ځایه به درته لیکلي زیګنالونه او د خپرونو طرحې او مهالویش راواستوو، ژیړ مازدیګر له خرې غونډې راکیوتلو، شپه مو په یوه مرکز کې مجاهدینو سره په ډیره خوښۍ سبا کړه په سبا له مامند څخه وچ کوټ سنګوړۍ ته پیدل واوښتلو چې دغه د یوه ساعت لار مو په پنځو ساعتونو کې ووهله، وروسته له هجرته چې یوه ورځ زه او ابو مسلم خراساني تقبله الله په همدغه لاره تللو نو ډیر ژر ورسیدلو او هیڅ د ستړیا احساس مو ونکړ، خراساني صیب ته مې د هغه وخت کیسه وکړه چې ښنګه مونږ دغه لاره په څومره کړاونو وهلې وه، ریښتیا هم چې بیا عادت شوي وو.

لنډه دا چې ښار ته ورسیدلو اکثره ملګرو به راته په شک کتل او ما داسې فکر کاوه چې ګونډې راباندې خبر شوي، خو څوک پوره پوهه نه و،

خو ماته ښار، ملګري، کورنۍ لنډه دا چې دا هر څه پردي ښکاریدل، د ښار په رنګونو او سهولتونو کې سکون ورک شو، لکه د سپین غر په ناوونو او ورشوګانو کې چې راڅخه څه پاتې شوي وي داسې احساس مې کاوه، هره شیبه به مې په ښار کې په زړه تیارې راخوریدې، د سپین غره په لمنو کې په پرتو درو کې د دنیا له ژوند او خونده بې پروا څنبور غازیان مې هره شیبه سترګو ته کیدل، د شیخ صیب عبد الحسیب تقبله الله خبرې مې په ذهن کې تاویدې راتاویدې، نور راته په ښار کې ژوند بې هدفه ښکاره شو، په دغه طاغوتي نظام کې نور پاتې کیدل راته شرم بریښیده، د ماشومتوب د انقلابي ژوند خیالونه مې بیا راتازه شول، په همدې کشمکش کې یوه میاشت تیره شوه، خو د راډیو غږ ته غوږ په آواز وو خو راډیو مې وانه وریده، ملګرو بیا رابطه وکړه چې وروره بیا دې تللو ته اړتیا ده راډیو سر ونه نیوه، زه هم نور د ښار له شر او شوره ستړی وم.

مال کله څو له خیره؟

دوه ورځې انتظار ده!

دوه ورځې راباندې دوه کاله تیر شول!

دا ځل مې هم د هجرت اراده نه وه، ځکه چې لا مې هم په دغه غرونو کې د خپلې کورنۍ د ژوند تیرولو امکانات نه لیدل،

د ورونړو او بچیانو سبقونه به څنګه کیږي؟

زموږ خو غټ کور ده د خوراک او پوشاک انتظام به څنګه شي؟

که کوم کس ناروغ شي نو د هغې درملنه به څنګه کوو، د هلته تګ خو ټولې نړۍ سره د پریکون په معنی ده....

دا او دې ته ورته اندیښنې او تشویشونه و چې زما د هجرت مخه یې نیوله، خو په ښار کې مې هم نور وخت نه تیریده ما ویل څه دا ځل هم لاړ شه چې دا زړه خو دې یوڅه وخت آرام شي.

## یو ځل بیا د خراسان د مقدسې خاورې په لور

ځان سره مو دا ځل د راډیو د آنتن د تړلو لپاره د اوسپنې پایې او یو څه نور اړین وسائل هم واخستل او یوځل بیا د خراسان مقدسې خاورې ته راروان شوم، دا هغه مهال و چې شدل طرف د امریکایي درندګانو او ددوی د مرتدو مزدورانو ستره قوه راغلې وه!

په ډېره سخته تر مامنده ورسیدو، شپه مو وکړه، دا ځل ملګرو ډېر لرې په غرونو کې د راډیو لپاره ځای جوړ کړی و، سهار چې له مرکزه راووتلو نو ملګري مې ډېر لرې یوه ګڼ ځنګل ته اشاره وکړه چې هلته به ځو، ځای ډېر لرې و خو هدف دومره لوړ و چې دا هسک غرونه او ګڼ ځنګلونه یې زموږ پښو ته راټیټول، د راډیو سامانونه مو راخلاص کړل او په قچرو مو بار کړل، هغه مو ملګرو ته ورکړل او هغوی لاړل، مونږ ورپسې له ښاره له ځان سره وړې د آنتن لپاره د اوسپنې جوړ پایپونه په یوه مضبوط خره وربار کړل او روان شولو،

په یوه نرۍ خوړ ورسم شولو، ښه شیبه مزل پس خر خملاست، نور یې نو نه کړه، له مجبورۍ نه مو پایپونه په اوږو واخستل، ټول څلور سره ملګري وو، هر یوه یو نیم متری پایپ اوږې ته کړ، تر یوې شیبې

ښه چټک روان وو، خو چې خوږ په پېچومي بدل شو نو زمونږ انرژي هم راختمه شوه، ابوعمر شینواري تقبله الله راڅخه د پایپ اخستو ډیر ټینګار وکړ خو هغه سره له خپل پایپه علاوه د خوراکي توکو ګنډه هم وه، نو پایپ مې ورنکړ، درې څلور قدمه پس به ودریدم، هغه به ښه مخکې لاړ خپل سامان به یې هلته پریښود او له ما څخه به د پایپ اخستو لپاره مخې ته راغی، نور ملګري مو ښه و یوازې زه کمزوری وم، په همدې طریقه مو په خوند خوند مزل لنډاوه، ابو عمر راته د غرونو ځنګلونو او په کې د اوسیدونکو حیواناتو او ژوند کیسې کولې.

یو ځای مو د غوزانو سره جواری او سره ډوډی وخوړه، له بره غره څخه مو لاندې سیمو ته کتل، بلا مزه یې کوله، یوه ملګري مو وویل: ان شاءالله پدې سیمو مونږ حاکم یو ځکه چې لوړې څوکې او حاکمې نقطې مونږ سره دي.

ابو عمر وویل، بسم الله کړئ چې لاره ډیره ده،

روان شولو آخر هم قضاء مازدیګر خپل منزل ته ورسیدو نور ملګري لا له وړاندې رسیدلي ول، له لاندې ناو څخه یې اوبه هم راخیژولې

وې او له تيګو څخه جوړې کوټې په منځ کې له تور چاپېره تپونه ختل.

وړې پيالې يې زمونږ مخې ته کتار کړې، هغه شنو چايو چې کومه مزه کړې وه نو په تير ژوند کې مې هيڅکله هم له چايو دومره خوند نه و اخستی، پيالې به ډېرې ژر تشيدلې ابو عمر ملګري ته په خندا وويل: استاد ته ګيلاس راواخله هغه هم شاته کارتن ته لاس کړ او غټ کونډه دار ګيلاس يې ترې راوويست،

د اوداسه اوبه نه وې، د ماښام لمانځه ته مو تيمم وکړ، ابو عمر تقبله الله مو جمعې ته مخکې کړ، ډير خوږ غږ يې و، له لمانځه چې فارغ شولو نو ابو عمر مخ راوګرځاوه، د سختيو په وړاندې په صبر، ثبات او استقامت يې خوږې خبرې وکړې، د سيرت او اسلامي تاريخ څخه يې ډير مثالونه وړاندې کړل، ويې ويل:

د خلافت دعوه دومره ساده او آسانه دعوه نده، دا لوړ عزمونه، او ستر همتونه غواړي، مونږ د تنظيمونو په څير د طاغوتي نظامونو په اوږو بار نه يو چې يوه سره مو جنګ او نورو سره دې موالات ولرو، زمونږ په ټوله نړۍ کې د ټولې نړۍ د کفارو او طاغوتي نظامونو سره جګړه ده په مونږ به ډير تکاليف او امتحانات راځي خو زړونه به غټ

ساتو، نوموړي د اسلامي دولت د مشرانو قربانۍ هم رایادې کړې او له سترګو يې اوښکې وڅڅيدې،

بهر تیوخۍ شو، حیران شوم چې په دې غره او ځنګل کې دا تیر ماښام څوک راغی مونږ خو چې کوم ملګري راغلي وو ټول همدلته ناست یو، الله شاهد دی لږ وارخطا شوم خو چې د ابو عمر په شمول مې د نورو ملګرو په څیرو کې ډاډ وکوت نو وارخطايي مې یو څه راکمه شوه، دې سره د مخامخ دروازې زړه پرده پورته شوه د لاسي برق رڼا ته مې په یوه څېرور غازي سترګې ونښتې چې خلاصه سینه او سرتور سر رانبوت، د سلام خوږو لفظونو يې زما زړه ته نا آشناء خوښي راکړه،

ابو عمر ورته په خندا وویل: اسلامه راغلې؟ د الله بنده ته خو سم زمری ښکارې دا زمونږ میلمه ونه ویروې، ما هم په خندا ورغبرګه کړه:

هو کنه د الله بنده زړه دې رانه وویست،

کوم دی میلمه؟ یاره دې ځنګلونو ته چې راځي د هغوی زړونه غټ وي.

زه وراوچت شوم، په مضبوطو متو کې يې کلک ونيولم داسې سينې ته يې راجوخت کړم لکه لس کاله پس چې سکه ورور سره ملاويږم، ډير وخت يې راسره په روغبړ کې تير کړ، تکرار به يې دا پوښتنې کولې: ميلمه ډير خو به تکليف شوی نه يې؟

الله دې درځخه دا زحمتونه قبول کړه.

نورو ملګرو سره چې له ستړي مشي اوزګار شو نو ابو عمر ماته رامخ کړ: دا ملګری اسلام نوميږي، زمونږ اورکزی مجاهد دی، دلته لږ وړاندې د مخابرې د سيستم رابط ده نن شپه دده ميلمانه يو،

اسلام ويل ځئ چې ځو، بهر چې راووتلو نو د راڼه آسمان په غيږ کې يوه شيبه د لسو ورځو ځليدونکې سپوږمۍ او رڼو ستورو ته زير شوم،

ابو عمر راغږ کړ: استاده ګوره زمونږ د غرونو آسمان ستاسې له ښارونو ډير ښکلی ده!

هو مولوي صيب ستاسو هر څه ښکلي دي!

راځه چې ساړه دې ونه وهي.

رښتيا هم دلته خو ډيره يخني ده، دلته واورې کيږي؟

هو وروره دلته دوه درې مياشتې پس دومره واوره شي چې بيا پکې تګ هم نه کيږي!

مخامخ راته سپين غر ښکاريده چې له واورو سپين ږقيده،

مونږ په همدې خبرو کې وو چې د اسلام دوی کوټې ته ورسيدو.

په کوټه چې ورننوتلو نو د مخابرو شور او د ملګري د ښه راغلاست خواږه لفظونه مو غبرګ واوريدل، دلته د حکيم په نامه بل ملګری هم و، کوټه نسبتا پاکه وه پکې لويه بخارۍ لګيدلې وه او پرې له پاسه د ايښې ديګ بخار چشار خاته.

حکيم هم ټولو ملګرو ته کلکه غاړه ورکړه او بيا يې له زړو برستنو څخه جوړو تکيه ګانو ته کښينولو،

د مخې سره يې پيالې زموږ مخې ته کتار کړې، مونږ خو سرې چای څښو او تاسو شنې، دا به څنګه شي؟

ماوويل: باک نکوي فقط چې ګرمې اوبه وي او دا هډوکي مو لږ تاوده شي،

چې له چايو مې غړپ وکړ نو بې حده خوږ و، مزه يې رانکړه په ډير زور مې يوه پياله وڅښله، نور مې په پياله لاس کيښود.

حکیم ډیر زور وواهه چې پیاله بیا ډکه کړي خو ما وچ انکار وکړ، ابو عمر په خندا شو: استاده که مزه یې نه وي درکړې چې له هغه پورې ځایه شین چای راوړي!

له ډیرې مزې او خوند مې بس کړ ډیر خوړ و،

اسلام وویل: څه وریجې به دې د ترخو ارمان وباسي،

اسلام ربښتیا ویل کله مو چې ډوډۍ خوړله نو وریجې دومره ترخې وې چې د ملګرو په تندي یې خولې راماتې کړې، شینوارو ملګرو خو ترینه لاس ونیوه خو ما ښې په خوند وخوړې، شپه مو له ډیرو خوړو کیسو او خاطرو ډکه سبا کړه، سهار کار ته ووتلو، په بسم الله مو شروع وکړه، د آنتن لپاره راوړي پایپونه مو په ځمکه خواره کړل او یو بل سره مو نټ کړل، په سر کې مو ورته بیز آنتن (ډیپول) هم وتاړه او ډیټا کیبل مو هم ورسره وصل کړ، اوس حیران وو چې څنګه به یې ودروو؟

یو طرف مو پکې غټ پړی واچاوه ملګرو پړی وړاندې د نښتر له ونې تاو کړ، مونږ څو کسانو د آنتن شپږ متره پایې ته اوږې ورکړې د پایې بیخ مو په وهل شوې کنده کې ورکینښود او ملګرو پړی کشاوه، پایه زمونږ له اوږو پورته شوه خو د پړي طرف ملګرو نور نشو

کشولای هغوی ته یې نور قابو کول مشکل شول، مونږ د پایې بیخ ته شولو او څه ملګري د پړي خواته لاړل، د تکبیر په یوه هیبتي غږ مو د آنتن پایه د الله عزوجل په فضل نیغه ودروله، ټولو د الله سبحانه وتعالی حمد او ثنا وویله!

نور کارونه دومره سخت نه ول په یوه شیبه کې مو راډیو فعاله کړه، په تیر ځنډ کې بهار استاد او احمد مولانا دوی څه زیګنالونه او نور مواد برابر کړي ول هغه مو ترې وغږول او له لاندې سیمو سره مو رابطې وکړې غږ یې ډیر خوندور او روڼ و، ټول خوشاله شولو، فی الحال مو د راډیو سامان اسلام دوی ته وسپاره او مونږ ترینه راښکته شولو،

استاد او احمد ته مو د شپې وویل نور نو تاسو پوهه شئ او راډیو مو.

## د هجرت تلپاتی عزت

اوس نو استاد دوی خپل کار پیل کړ او مونږ بیا کوټ ته راښکته شولو، دلته نو مرکز ته ګڼ مجاهدین راغلل او ټولو یو بل پسې په نوبت د پاتې کیدو بلنې او زاری کولې، آن تردې چې زمونږ د بټې کوټ اصحاب بابا له ډیر خلوصه وژړل او ویې ویل چې که پاتې شوې نو آس درته اخلم په هغې ګرځه خو د الله لپاره پاتې شه او کورنۍ دې راوغواړه، ګوره که لاړې نو د دنیا او آخرت تاوان ده، دلته به درڅخه الله ډیر خیر خپور کړي د شپې تر ناوخته دا کیسې روانې وې، چې څملاستم او سر مې په بړستن دننه کړ نو یوه نړۍ سوچونو او فکرونو واخیستم، له ځان سره په خبرو وم،

تا خو له ماشومتوبه تر زلمیتوبه ددغه راز یوه ژوند آرمان کاوه، تا خو به په هرې دعا کې همدا لفظونه تکرارول چې ای الله ته راڅخه د خپل نظام د قیام په لاره کې ستر ستر کارونه واخله، تا خو په همدغه آرمان د ډیرو دریځونو، مایکونو او ممبرونو څخه نارې وکړې، تا خو د ځوان نسل د فکري روزنې په هدف تر شلو زیات تاریخي ناولونه له مختلفو راډیوګانو خپاره کړل، ته خو د همدغه اسلامي فکر او

روحيې له امله هلته طاغوت کې هم په مختلفو کړيو او ډلو کې په القاعده او داعشي يادېږي!

ته هلته چاته او د کوم هدف لپاره خدمت کوې؟ تاته دا ډالر او افغانۍ څوک درکوي؟ ستا د خدمت ګټه چاته رسېږي؟

ښه! اوس چې همداسې يو سپيڅلی نظام قائم شو او ستا خدمت ته اړتيا ده، ته ترې تښتې؟!

دا نظام او دا غرباء مجاهدين خو تا له نږدې وکتل، ددوی منهج، تګلاره او د کفارو او طواغيتو سره ولاء او براء خو هم تا وکتله، ددوی اهداف او آرمانونه خو هم له هر چا زيات تاته څرګند شول، ښه نو اوس کوم دليل لرې چې دا بې وسه مجاهدين زلمي دې غرونو کې پرېږدې او ته ترې د ښار رنګونو او هوسونو ته ځې؟

همدې سوچونو او پوښتنو مې په ذهن کې يو انقلاب راپاڅاوه، د شپې دوه بجې شوې خو ماته خوب رانغی، پورته شوم له الله عزوجل څخه مې د اوښکو په بدرګه وغوښتل چې ای رب العالمين ذاته! ماته لار راوښايه، همغه و چې لږ مې سترګه ورغله او يو خوب مې وليده! له تعبيره يې پوه شوم چې دلته پاتې کيدل د دواړو جهانونو په ګټه دي!

سهار چې جمع وشوه نو اصحاب بابا یو ځل بیا مخې ته راته کښیناست نور مجاهدین هم متوجه شول او په خوږه موسکا یې وویل: ښه نظام صیب څه سوچ دې وکړ؟

ورته ومې خندل، بس اصحاب بابا پاتې شوم، دې سره په مسجد کې د تکبیر چیغې شوې اصحاب بابا او ټولو ملګرو سجدې وکړې،

مرکز ته راغلو چایو ته ناست وو، د هجرت په فضیلتونو او د جهاد په کړاوونو او ضرورتونو خبرې کیدې او زمونږ له سترګو اوښکې څڅیدې،

ملګرو ټینګار کاوه چې سمدستي کور ته زنګ ووهه او ورته ووایه چې راروان شي، خو ما ورته وویل زه به کورنۍ ته یو خط ولیکم تاسو یې وروړسوئ په زنګ وهلو مسئله نه حل کیږي!

زما کشری ورور کفایت الله تیار همدلته و، هغه هم زما د پاتې کیدو او د ټولې کورنۍ د هجرت په پریکړه ډیر حیران او خوشاله شو، ځکه نور هلته طاغوت کې زما اوسیدل دلته دده په لمن تور داغ و، اوه اته کسه نور د تره زامن مې هم همدلته د اسلامي خلافت مجاهدین ول،

کله چې بتې کوټ کې وو نو دوی ټول له امارت سره ول کلي کې هم زمونږ ډیره داسې وه لکه والسوالي چې وي، ډلې ډلې مجاهدین به تلل راتلل، که ما به هلته هر کفر کاوه نو دوی به په کلي اولس کې له نورو امارتیانو زما دفاع کوله او نورو امارتیانو به ددوی له کبله ماته برګ نشول کتلای، په هر پاټک او لاره به یې راته سلامونه کول ځکه چې ورونه او د تره زامن مې امارت کې سرګروپان او ډلګي مشران ول،

زما موقف ته ورته ټولو خلکو له ویرې له کلي کډې کړې وې هغوی به هم راته پسخیدل او قهریدل چې زه ځنګه د دومره وظیفو او کارونو کلي ته آزاد ځم راځم او ځوک راته پورته نشي کتلای.

ښه مې یاد دي چې یو وخت مې د ټاکنو له دفتر سره کار کاوه نور کارمندان به د بتې کوټ والسوالۍ ودانۍ ته چې په پاخه سړک پرته ده په ویره او ډار تلل راتلل خو زه به د انتخاباتو په موټر کې په چهاردهي، باریکاب او مشوانو کې چې د امارت قوي مرکزونه ول آزاد ګرځیدم راګرځیدم.

**هو!** دا د امارت لایحه ده هغه ځوک چې امارت کې رابطه ولري خپل خپلوان ولري نو که هر ځومره ستر کافر وي نو آزاد ده او سرې

سترګې به د امارت په ساحو کې ګرځي، خو که پیژندګلوي ونلري نو بیا د حکومت یو عادي مامور هم دوی وژني، ښه به مې لیدل چې په پورته ولایتونو کې په کماندو، اردو او نورو نظامي برخو کې مصروف باریکاوي ځوانان به چې په رخصتۍ راغلل نو خپل د امارت کسان به ورپسې مخې ته تلل او تر کوره به ورسره بدرګه روان ول، خو په ډیرو بې وسه او بې کسه خلکو یې بیا میندې بورې کړې وې.

په هر صورت همیشه به مې د تره زامنو او نورو ملګرو سره پدې بحث و چې که تاسو هر څومره د توحید سپیڅلې عقیده ولرئ او د الله عزوجل د نظام د قیام په ارمان د امارت په صف کې قربانۍ ورکړئ نو ستاسې دا خواري او غورځې پرځې بې ځایه او بې ګټې دي، تاسو ته به الله عزوجل ستاسو د نیتونو بدله خامخا درکوي ان شاءالله خو د امارت تر قیادت لاندې د شرعي نظام د راتګ خوبونه مه ګورئ ځکه دوی خو د شرعیت سره ښکاره سل په سله په ټکر کې روان دي، اخلاقي فساد، غلا، چور چپاول، حرام کښت او کاروبار، اجرتي قتلونه او د کفارو او طواغیتو سره موالات یې له هیچا هم پټ نه دي خو دوی به همدا خبره کوله چې د مؤمنو مجاهدینو قربانۍ

الله سبحانه وتعالی نه ضایع کوي آخر به هم مونږ ته الله عزوجل شرعي نظام او ددغه منکراتو څخه نجات راکړي.

هو!

ددوی او نورو مخلصو مجاهدینو آرمان الله عزوجل پوره کړ او پرې یې د اسلامي خلافت لوروینه وکړه، دوی ټولو د خلیفة المسلمین الشیخ ابوبکر البغدادي حفظه الله سره بیعتونه وکړل، د تره زامن مې اوس ټول دلته د اسلامي نظام د حدودو په دفاع کې د ټولو کفارو او طواغیتو سره په جګړه بوخت دي.

دارالاسلام ته زما په هجرت کې هم ددوی ستر رول و، دوی ټول راڅخه کړی کیناستل او هر یوه راته په وار وار بلنې راکړې او په ضمن کې یې دا ګوتڅنډنه هم کوله چې اوس به نو اسلامي خلافت ته د امارت ګومان نکوې دلته هر څه بدل دي که ته لاړ شې او هلته بیا حکومت او مؤسساتو کې خپلې وظیفې جاري وساتې نه یوائې دا چې موږ ټول به تاسره تعلق قطع کړو بلکې که مو په دغه حال کې په مخ راغلې نو په مرګ دې هم صرفه نه کوو! ټولو دغه خبره ښه جدي وکړه.

لنډه دا چې کورنۍ ته مې اوږد خط ولیکه، خط کې مې لومړی شفق او بیا ټوله کورنۍ مخاطب کړی وه، شفق تقبله الله هغه مهال پوهنتون کې و، له ټولو زیاته اندیښنه مې همده ته وه چې څنګه به د ښار له خوندونو او رنګونو ډک ژوند پریږدي او د سپین غر غرونو ته به راشي؟!

دعاګانې مې کولې او د خط ځبرګون ته په تمه وم یوه ورځ پس مې چې معلومات وکړل نو شفق تقبله الله د اوښکو په بدرګه زما خط ټولې کورنۍ ته لوستی و، لله الحمد ټول هجرت ته راضي شوي  ول او چې ورسره وغږیدم نو په خندا یې ویل چې ټول در روان یو له خیره!

په ډیره بیړه مې د خپلو والدینو خویندو، وروڼو او بچو د راتګ لار څارله.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا قُوٓا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا... [سُورَةُ التّحْريم : 6]

ژباړه: ای مؤمنانو! خپل ځانونه، خپل اولاد او کورنۍ له هغه اور څخه وژغورئ چې د سون مواد به یې انسانان او تیږي وي...

کله چې راورسیدل نو یوه ملګري غلي غوږ کې راته وویل :مبارک شه چې خپل اهل دې له اور څخه وژغوره!

څو شپې مو کوټ کې وکړې او بیا مو ماشومان او زنانه په یو غواګۍ موټر کې ځای پر ځای کړل او مخ په مامند روان شولو مونږ څلور وروڼه په دوه موټر سایکلو ورپسې شولو، له وچ کوټه چې ووتلو نو پېچومې ډیر سخت و، مونږ ډیر شاته پاتې وو، لرې د غره په سر مو سپین موټر ولید چې ولاړ و،

لاندې مو چې وکتل نو په یوه پېچومي کې مې خپل مور او پلار هم ولیدل چې امساګانې یې لګولې او مخ په بره روان ول، شاته ورپسې نورې ښځې او ماشومان لیکه ښکاریدل، موټر له دوی مخکې ختلي وو، ځکه دوی یې ټول نشول خیژولای، موټر د غره په سر ورته ولاړ وو، مونږ چې د پېچومي بیخ ته نږدې شولو نو موټر مو له سترګو پناه شو!

دغه وخت امریکایي هیلیکوپټرې هم ډیرې ټیټې راغلې، هغه وخت د شډل په طرف ستره قوه راغلې وه، مونږ د وچ کوټ په کلي کې د ونو لاندې ځانونه او موټر سایکلونه غلي کړل، هیلیکوپټرې زمونږ له سره بیرته تاوې شوې او په کومه لاره چې موټر تللی و نو هغه خوا

يې وويشتله، مونږ ځان سره دا تسليم کړه چې همغه زمونږ موټر يې وويشت، ورونو ته مې وويل تاسو همدلته پاتې شئ زه ورځيږم ممکن موټر لګېدلی وي، په موټر سايکل مې پښه واړوله او مخ په پېچومي مې ورسم کړ، د غره سر ته نږدې راڅخه موټر سايکل يوه کمر ته وښوييده، ځان مې ترې ګوذار کړ، ښه وړاندې موټر سايکل هم يوې لويې ډبرې رامنع کړ، په ډېر تکليف مې بيرته لارې ته راوخيژاوه،

دا ويره راسره وه چې چالان به شي او که نه، خو چې لغته مې ورکړه نو ښه و چالان شو، د غره سر ته چې پورته شوم نو له لرې د شډل څخه د سپکو او درنو اسلحو دروند درزار راتلو، ښه و موټر وتلی و او تر لرې ځايه نه ښکاريده، زه هم په ډېره ويره مخکې روان وم، کله چې د اسدخيلو په تنګي ورښکته کېدم نو طيارې بيا راتاوې شولې!

نه پوهيږم له الوتکې د دهشکې فيرونه راباندې وشول او که له وړاندې شډل څخه، خو بيخي څنګونه راته ولګېدل، د مردکيو شغار اوتر کړم، موټر سايکل له قابو ووت، په لاندې کمر ورسم شوو، کله به زه د موټر سايکل نه لاندې شوم او کله به موټر سايکل رالاندې شو،

څو ملاقه مو وخوړل، موټر سایکل دوه ځایه شو، زه چې راقابو شوم نو پښې مې سوی شروع کړ او د لاس له ورغوي مې وینه روانه شوه، چې ځانته مې حرکت ورکړ نو ښه وم، پورته شوم لومړی مې پښه لړه درنه اخیسته، د زنګون سترګې مې درد کاوه او له زنګانه لاندې مې پښه په سلنګسر سوځیدلې وه، لاندې د انارو باغ ته مې ځان ورساوه، هلته مې لږ ساه او صورت په ځای شول د لاس وینه مې بنده کړه او د خوړ په غاړه په ونو کې پټ پټ مخ په مامند روان شوم، موټر سایکل مې په ځای پریښوده او له جیب څخه مې پیسې، مبایلونه او نور سامان هملته پاتې شول،

د مجاهدینو پاټک ته ورسیدم، هغوی سره مې چای وڅښه او مخ بره روان شوم د پښې درد مې زیاتیده، ښه شیبه مزل مې کړی و چې همغه موټر چې زموږ ماشومان یې وړي ول مخې ته راغی ماته نا رسیده بیرته تاو شو، ودریده او ډرایور په وارخطایۍ راښکته شو!

نور وروڼه دې چیرې دي؟ خیر خو به وي؟

الحمدلله خیر ده هغوی وچ کوټ کې پاتې شول،

ښه الحمدلله هله ژر راخیژه چې مور مو سخته وارخطا ده مونږ خو فکر کاوه چې تاسو یی وویشتلئ!

یاره زمونږ نو بیا تاسو ته اندیښنه وه.

لږه ټوټه مزل مو چې وکړ نو د سړک غاړې ته نږدې یوه دیوال ته مو ټول ماشومان ناست ول، مور مې د سړک په غاړه زمونږ په انتظار ولاړه وه، چې کوزیدم نو کوشش مې کاوه چې په وینو لړلې لستوڼې او پاینڅه مې له موره پټه کړم خو ونه توانیدم، چې مور مې زه ولیدم نو زما د لیدو په خوشحالۍ یې زما په وینو لړلي لستوڼي او پاینڅې ته هم پام نشو، په وارخطایۍ راغاړیوته.

زویه شکر چې روغ مې ولیدې، نور ورونه دې لکه چې شهیدان شول؟!

نه ابۍ شکر روغ جوړ دي راروان دي.

د مور مې زما په خوله باور نه کیده تر هغو چې قضاء مازدیگر مې دوه ورونه، شرافت شفق تقبله الله او شوکت الله تقبله الله هم راورسیدل، هغوی چې لاره کې ټوټه شوي موټر سایکل کتلی و نو شفق او شوکت ورته ډیر وارخطا شوي و او ویلې و چې قاري صیب یې ویشتلی او شهید دی، هلته شاوخوا یې راپسې لټولې وه چې ممکن کومه ډډه کې به پروت وي، خو شوکت الله تقبله الله د خپلې جنگي تجربې له مخې داډ درلود چې قاري صیب روغ وتلی او په دې دلیل

يې قناعت کړی و چې دلته دومره وينه نشته چې څوک ترې ومري، يو ځای دوه خال خال وينه پرته وه او شوکت الله ويلي و چې ممکن معمولي زخمي وي او خپله وتلې ده!

(ماته مې د کورنۍ کشران په قاري صيب غږ کوي)

ماښام زنانه ابوعمر تقبله الله کره لاړې او مونږ حجرې ته ورغلو، په سبا راته د مهاجرينو مسئول او ابوعمر تقبله الله د لوښو او بسترو بندوبست وکړ، د خراسان د هغه وخت د نائب شيخ عبدالحسيب تقبله الله تر څنګ مو کور آباد کړ، شيخ صيب او کورنۍ يې زمونږ انتهايي زيات خيال ساته.

## له معنویت او سکون څخه ډک ژوند

د هجرت په دیار کې مو د خوند او مزې یو نوی ژوند پیل کړ، پنځه وخته په جماعت سره لمونځ او د سهار او ماښام په لمانځه کې به قنوت نازله یو نا آشنا کیفیت درلود، واقعي چې دلته طاعت او عبادت کې زیات خوند ده، شپې او ورځې په ډیره خوښۍ تیریدلې، ټولو مجاهدینو او مهاجرینو مو زیات قدر کاوه، هر ماښام به میلمستیا وه هر طرف د اسلامي شریعت د نور وړانګې خورې وې.

له ښاره راغلي ماشومان او زنانه د غره له ژوند سره لومړی نا آشنا ول، کله کله به یې ګیله او شکایت کاوه خو نږدې کور کې د ښځو لپاره د یوې عالمې خور له خوا شرعي دوره شروع وه هلته نو زنانه داسې وروزل شوې چې بیا به یې دلته راوستل په ځان زما احسان ګاڼه، ماشومان به سهار هغه مکتب ته تلل چې د اسلامي دولت سپیڅلي نصاب پکې تدریس کیده او مازدیګر به حلقې ته روان ول، لږ وخت کې یې ډیر څه زده کړل، ما او شفق هم د راډیو خپرونو ته کار ووایه، د مخې سره مو څو خپرونې طرح کړې، څه زیګنالونه مو ریکارډ کړل او مجاهدینو او عوامو سره مو مرکې وکړې هره شپه به له راډیو څخه نوي نشراتو د لکونو مینه والو تنده خړوبوله، څو

ورځې پس راپسې یو مجاهد راغی او غلی یې راته وویل چې حافظ صیب دی غواړي، نومورې د ځای آدرس راکړ او ولاړ،

زما نو د خراسان د والي حافظ سعید تقبله الله سره لومړی ملاقات و، د هغه د شخصیت په اړه مې ډیرې نادرې کیسې اوریدلې وې، د هغه د غیرت او شجاعت له کیسو لا له وړاندې تر تأثیر لاندې وم، کور ته لاړم د خوشالۍ نه مې مور ته په ډیر فخر وویل چې د خراسان والي راپسې کس را ستولی او غوښتی یې یم، ساده مور مې وارخطا شوه،

زویه کوم کار خو به درنه خراب شوی نه وي؟! ځنګه دې غواړي؟!

ورته ومې خندل، نه مورې داسې نده! مونږ دلته د کارونو د جوړولو پسې راغلي یو نه خرابولو پسې.

مشر زوی مې سباؤن تقبله الله چې هغه وخت لس کلن و راته ټینګ شو چې زه هم درسره ځم او حافظ صیب ګورم.

دواړه پلار او زوی د هغه چا په طرف روان شولو چې نړۍ یې له خراسان څخه اسلامي دولت سره په تش لاس بیعت حیرانه کړې وه.

مونږ د هغه باعظمته غازي څنګ ته روان وو چې اوس د نړیوالو رسنیو د بحث او خبرونو سر ټکی و،

هو!

هغه مجاهد چې زما پرې لا له وړاندې د خالد بن ولید مینه ماتیدله او کله به مې چې دده هیبتي انځور ته کتل نو دده په شکل کې راته غرونه غرونه جلال او جمال ښکاریده.

په لاره کې مې سباؤن د فکر تنسته وشکوله، هلته د څو ماشومانو په اړه یې پوښتنه وکړه: ماشومان د کوم ځای دي؟ څنګه تکړه دي په شا د غونډۍ سر ته د اوبو بوشکې پورته کوي؟!

بچیه دا څه ازبک ماشومان دي او څه روسان او تاجکان ماشومان دي، ته وګوره څومره تکړه دي دومره لرې ځای ته اوبو پسې راځي، تاسو خو د دروازې له مخې د لختۍ نه کور ته اوبه ننباسئ بیا مو کور کې مور سره لانجه وي چې نورې نه شو راوړی.

په خندا یې وویل نور د اوبو ټول لوښي زه ډکوم لانجې نکوم.

آفرین زویه!

سباؤن پړاو په پړاو خوږې پوښتنې کولې او ما ورته په مینه ځوابولې!

آخر هم د هغه ملګري راکړي  آدرس ته ورسیدو، د کور مخ ته یو ځنور ځوان مخابره په لاس ولاړ و، له سلام کلام وروسته یې وویل نظام صیب یې؟

ما وویل :هو!

راځه همدا تاته انتظار وم، ته صبر زه مې ځادر او ټوپک راواخلم، مونږ د دروازې مخ ته ولاړ وو، له لږ ځنډ وروسته چې راووت نو د خړ ګلدوزي ځادر لاندې د کلاشنکوف میل راوتلی و،

دی مخکې او مونږ ورپسې وو، په ګڼو ونو پوښلي یو نري خوړ ته ورسم شولو، یو ځای کې چې له خوړه کلي ته لار بیله شوې وه، ودرید ټولې خواوې یې وځارلې او بیا یې غلی وویل: راچابک شئ!

مونږ هم ستمیدلي په تنګو کوڅو کې ورپسې ورننوتلو، له څو کړو وړو کوڅو چې ورتیر شولو نو په مخابره یې چاته ټالی ووهله، له هغه لوري  مې کمزوری غږ تر غوږ شو، غلي یې سره څه وویل،

لږه شیبه مزل پس د مخامخ دروازې زړه پرده پورته شوله، یوه کس بې له ستړي مشي د کور داخل ته په منډه دننه کړو، دروازه یې وتړله او بیا یې مونږ سره تود روغبړ وکړ، په برنډه کې پراته زوړ کټ کې

یې کښېنولم او لا یې هم زما لاس په دواړو لاسونو کې په ډېره مینه کیکاږه او راسره ملګري ته یې ویل: ښه نو نظام صاب دا دو؟

زه د اورکزیو مجاهدینو دومره خوږې مینې ته حیران شوم،

نوموړي خبرې پسې وغځولې حافظ صیب تاته انتظار ده، درځئ هغه وړاندې کوټې ته ورشئ،

د لوېې کلا په بر کونج کې د کوټې له نلکي دودونه ختل، شیبه پس راسره راغلي ملګري د کوټې پرده پورته کړه دروازه یې ټک ټک کړه، له دننه دروند آواز راغی،

راځئ!

زړه مې بې واره درزیده، چې کوټې ته ننوتلو نو حافظ صیب چې د بخارۍ څنګ ته په یوې زړې توشکې او زړې بړستنې ته ډډه وهلې وه را ولاړ شو، خوله یې له خندا ډکه وه، عزام صیب راغلو په خیر!

ډیر وخت یې سینې پورې جوخت نیولی وم، او ما هم همدا هیله لرله چې ژر مې خوشې نکړي، سره غاړه غړۍ وو خبرې مو کولې،

ستا ملاقات ته مې ډېره تلوسه وه خو کارونه ډیر دي زه لرې وم، هلته مې زحمت نه درکاوه اوس نو ستا لپاره دلته رانږدې شوم.

دې خبرو نو په ما سم تاثیر وکړ، سترګو ته مې بې اختیاره اوښکې راغلې ځان مې قابو کړ، چې له غيږې يې خلاص شوم نو له لاسه يې ونیولم ما که هر څومره ټينګار وکړ خو په خپل ځای يې کښينولم او دا راته پښو ته کيناست، زه له خجالته نه ډېره کيدم خو په زور يې تکيه کړم.

سباؤن سره يې هم ډیره مینه وکړه،

حافظ صاحب: اوهو ماشاءالله وړوکی عزام دی؟!

دا به همغه وي کنه چې راډيو کې وايي چې: ای طواغیتو مونږ ستاسو له بمبارونو نه ویریږو!

زه: نه هغه زرقاوي نومیږي او له ټولو کشر دی

حافظ صاحب :ښه ماشاءالله!

حافظ صيب راسره په ساعتونو وغږیده په ډیرو مهمو موضوعاتو خبرې وشوې د اعلام په اړه يې د هر راز همکاری ډاډ راکړ او دا يې راته وويل چې دلته ستا کار مونږ په ځان احسان نه ګڼو بلکې دا زمونږ او ستاسو شريک خلافت دی په شريکه به کار کوو او يو بل سره به مرسته کوو!

د راډيو له خپرونو ډېر خوشحاله و او ويل يې چې هره شپه يې اورم، يواځې زه نه بلکې ټول خلک يې اوري، الله دې تاسو ته لا زيات توفيق او همت درکړي چې ډېر کار وکړئ.

چې ترينه رخصتيدو نو ويې ويل: ميلمستيا دې په ما پور ده بيا به نور ملګري هم وي يوه شپه به غورې وکړو.

چې راووتلم نو د خپل اسلامي دولت د مشرانو دومره مينې، عاجزۍ او خاکسارۍ وژړولم، عجيبه انسانان دي دا سړي په رېښتيا چې غرونه غرونه حوصلې او عظمونه لري.

د حافظ صيب په ملاقات مې ارادې لوړې او حوصلې مضبوطې شولې، د ستړيا احساس مې ورک شو، د حافظ صيب له لورې په راکول شوي نظم لاس په کار شوم.

## مونږ او خلافت غږ البیان راډیو

په لومړي سر کې مو یو کمپیوټر درلود، هغه هم په راډیو کې و، زمونږ د اوسیدو له ځایه راډیو ته په غرونو کې د یوې ورځې فاصلې مزل و، کومې خپرونې به مو چې ریکارډ کړې هغه به مو هلته راډیو ته وړلې او هلته به ایډیټ کیدلې، په شروع کې ټول شپږ کسه وو؛ زه، بهار استاد، شفق، احمد مولانا، صلاح الدین او قاري شهادت چې هغه وخت یې نوم ابو حذیفه و!

وروسته مو یو بل کمپیوټر هم پیدا کړ خو ډیر زوړ او تقریبا له کاره لویدلی و، په دې کمو ملګرو او نشتو امکاناتو الله عزوجل د راډیو په خپرونو کې یو عجیبه اغیز او راښکون اچولی و، ملګرو به په واورو او باران کې په ساعتونو ساعتونو په غرونو کې پلی مزل کاوه او ډیر کله به د راډیو ځای کې ملګري په ورځو ورځو وږي او نهار ول خو نه یې شکایت کاوه او نه یې حوصلې پریوتې.

د وخت په تیریدو ملګري او امکانات رازیات شول، کارونه لا منظم او چټک شول، له راډیو څخه د خبرونو تر څنګ د ځیرې سیورې اونیزه مشاعره هم پیل شوه.

د راډیو مینه وال انتهایی زیات شول، حتی په پوستو او حکومتي ادارو کې به هم مرتدینو خلافت غږ راډیو اوریدله، د راډیو اغیز او نفوذ دومره زیات او خپور شو چې د نړیوالو رسنیو د خبرونو او د بحث نقطه وګرځیده.

دغه مهال به ماسره په حجره کې اته لس کسه ملګري دیره ول، ښه مو ساعت تیر و، کار او بنډار به و، د اسلامي سیاست په رڼا کې به په روانو حالاتو علمي بحثونه کیدل، یوه ورځ احمد جلال الدین وقار تقبله الله د راډیو له ځایه سترې ستومانه او خړ پړ راښکته شو، ملګرو وقار تقبله الله سره یو شیبه شوخي وکړه یوه غږ کړ چې:

مشره!

وقار خو په یو چکی صابون هم نه پاکیږي کوم ماشوم واستوه چې هغه بره مکتب ودانۍ سره پخې خښتې پرتې دي هغه راوړي.

زه اوچت شوم چې د پاکو جامو او تودو اوبو غم ورته وکړم، ریښتیا هم چې هلته په غره او ځنګل کې د ځښلو اوبه هم په ګرانه پیدا کیدلې او ملګرو به ډیر تکلیف برداشت کاوه، زه چیبوتلم نو احمد وقار راته وویل: وروه د هر څه نه ډوډۍ ضرور ده له پرون غرمې

راهیسې مې څه نه دي خوړلي اول مې د خېټې غم وکړه لمبا سره به وروسته ګورو.

وقار چې ډوډۍ وخوړه نو یو څه راطبعه کې شو، مبایل یې له جیبه راوویست خوا ته مې راغی او زیاته یې کړه: ته ګوره امیر صیب چې یوه ویډیو دربانديې وګورم،

چې ویډیو یې ولګوله نو ظاهر قدیر (ډوزمار خان) په ډېره غصه ولاړ ستېج ته سوکان بند کړي ول او همدا بغارې یې وهلې چې: زه درته قسم کوم چې د داعش راډیو د امریکایانو بېز کې ده که چیرته دا راډیو د جلال آباد په هوایي هډه کې نه وه نو بیا ما حلال کړئ.

وقار ورپسې د راډیو په اړه یو بل راپور هم راوښود چې په راډیو د خبر ترڅنګ یو ماډرن او منظم د راډیو سټوډیو هم ښودل کیده او د خبر په منځ کې د پارلمان یو مرتد وکیل چې نوم یې راڅخه اوس هیر دی خو ګمان کوم ملا و، پګړۍ یې وهلې وه او ده هم د ډوزمار خان په تکراري خبرو شخوند واهه، ده پکې لا دا هم ورزیاته کړه چې مونږ د پارلمان څو تنه وکیلانو د جلال آباد له بېز څخه د داعش د راډیو سامان راواخیست چې راویستلو مو نو امریکایانو مو ممانعت وکړ!

يو بل بحث مې هم وکوت چې د سياسي چارو د شنونکو په نامه دوه تنو په دې اعتراف وکړ چې:

د داعش د راډيو نشرات ډېر منظم، مسلکي او اغيزناک دي، چلوونکی يې پاخه او په کار پوهه خلک دي او دا ناشونې ده چې يوه داسې منظمه راډيو دې په غرونو کې نشرات وکړي نو طبيعي ده چې ددې راډيو کارکوونکي امريکايانو په لوړو ډالري معاشونو کوم بېز ته دننه کړي او له همغه بېز څخه منظم نشرات کوي.

زړه مې ورته تنګ شو، وقار ته مې وويل بس بند يې کړه،

اول خو د الله عزوجل لکونه شکرونه دي چې زمونږ دښمن زمونږ د راډيو له نشراتو دومره په ويره کې دي چې زمونږ د راډيو د خپرونو په اغيز او د افرادو په مسلکي والي اعتراف کوي او پاتې شوه داچې دوی دا ادعا کوي چې راډيو د امريکايانو په بيز کې ده نو خلک څه ددوی غوندې چهارپايان خو ندي چې وابنه خوري او ددوی هره خبره به ګوندې په پټو سترګو مني دغه ادعاوې هم ددوی په حماقت دلالت کوي!

وقار په قهر شو: ته ګوره څه منظمه ستوډيو يې مونږ ته منسوبه کړې دا احمقان لا په دې هم خبر نه دي چې زمونږ د راډيو له تيګو جوړه کوټه کې مې دوه شپې په دې واورو کې په نهره کړې.

يوه ملګري له لرې پرې راغږ کړ: احمد مولانا خوښه دې نه ده چې په همدې حال کې دې يو تصوير واخلو او دغه مرتدينو ته يې ورواستوو؟

وقار وخندل: ياره تير شه ترې دا بزدل موږکان ماته معلوم دي زما د تصوير په ليدو به يې زړونه له يرې چاودلي وي!

وقار له خپل ټاکلي وخته مخکې راښکته شوی و، او بيګا راډيو هم د نشراتو منځ کې بنده شوه له وقار نه مې د لامل پوختنه وکړه،

ويې ويل: مشره بيګا جنراتور کار پريښود دغه جنراتور له کاره پريوتی ده بيخي زوړ ده که دغه بل نوی جنراتور رارسيدلی وي چې ور اوچت يې کړو؟

ماويل هو هغه رارسيدلی په خير، سبا به يې ان شاءالله انتقال کړو!

سهار مو نوی جنراتور په شپږو اوه کسانو کچرې ته وراوچت کړ، د کچر والا ملګری مو رخصت کړ او هغه د غرونو له شا راتاويده او

مونږ مخامخ په غرونو ورسم شولو، قضاء مازدیگر ورسیدو خو لا هم د کچرۍ والا نه و راغلی او زمونږ ورته سودا شوله، مونږه لا ناست نه وو چې کچرۍ والا تش راوخوت.

وړکیه خیر خو به وي څنګه تش راغلې؟

ورورہ د ناو بیخ کې کچره وښویده جنراتور یې هم ګوذار کړ، بیرته مې په یوازې ځان نشو بارولای، کچره هم راڅخه وتښتیدله او ستاسې خبرول ضرور و ځکه راغلم.

ما ورته وویل: الله دې ورحمیږي دا خو بیګا ته نشرات ډیر ضرور دي مازدیگر مشرانو رابطه کړې وه او بیګاته باید یوه مهمه خبرتیا نشر کړو، دا به څنګه شي؟

بهار استاد وویل مونږ ورپسې ښکته کیږو، ما ورته وخندل چې که ښکته شۍ نو په څه شي به جنراتور راخیژوئ؟ ما سره ټول پنځه کسه برابریږو او ناوخته هم ده!

بهار په پوره ډاډ وویل ته هم مه څه مونږ څلور کسه پسې ښکته کیږو الله مهربانه ده ممکن راپورته یې کړو.

نور يې نو زما خبرو ته غوږ ونه نيوه ملګري يې ځان پسې کړل او يو په بل پسې ليکه ناو ته کښته روان شول،

زه هم کوټې ته ننوتلم اور مې ولګاوه بهر يوه لويشت واوره پرته وه، ماښام شو خو د ملګرو درک راونه لګيده لمونځ مې وکړ اذکار مې هم وکړل لږه شيبه نور هم ناست وم، آخر تنګ شوم او بهر راووتلم، د سپوږمۍ رڼا ته هر لور سپين ځليده، د ناو په طرف مې څو قدمه ورواخيستل چې کتل مې نو د شا له خوا د څه شي ترپار شو، ټو پک ته مې فکر شو چې کوټه کې مې پريښی ژر مې کوټې ته رامنډه کړه ټوپک مې راواخيست او په ډير احتياط بهر راووتلم ګورم چې د بزو رمه ده او له ما راچاپيره شولې ګرم تپ يې له خولو روان و، اول خو لږ ووېريدم چې په دې غره او ځنګل کې دا رمه له کومه شوله؟ هر څومره مې چې رمه شړله نه تلله، حيران وم ځان سره مې ويل: هلکه جنيات نه وي!

زه په همدې فکرونو کې وم چې له لاندې ناو څخه د ملګرو کمزورې غږ مې تر غوږ شو او چې ښه ورته ځير شوم هسې توره سياهي ښکاريده، د ناو دغه اړخ لوخ و ونې يې نه لرلې، بزو هم مخه

وکړه لاړې، زه هم ویریدلی د ملګرو په طرف مخ ښکته ور روان شوم، ښه ټوټه مزل پس یې غږ رانږدې شو او ورنارې مې کړې،

استاده!

هن وروره مه راځه بس درغلو په خیر، زه هم په یوه غټه ګټه کښیناستم، ملګري زیات رانږدې شول او ما فکر کاوه چې بیرته به تش را روان وي، استاد ضدي سړی ده او هسې یې خپل ضد وکړ او جنراتور راخیژول خو ناممکن دي، خو چې کتل مې د ملګرو په لاسونو کې جنراتور او په ژبو یې اذکار و، ټولو د الله عزوجل حمد او ثنا ویله او مخ پورته راختل، حیران پاتې شوم عجیبه ده.

چې ماته راورسیدل نو ما هم ورسره لاس کړ، واوره وه او لاره تنګه وه ملګري به ځای ځای پریوتل خو بیا به راپورته شول، د نشراتو وخت ته نیم ساعت پاتې و چې جنراتور مو د راډیو ساحې ته راورساوه،

ملګري ټول یخنۍ نیولي و زه ټولو ته نسبتا دمه وم د جنراتور تار مې راکش کړ خو هیڅ غږ یې ونه خوت ملګرو ورته لاسي برق روښانه کړ، یو ځای یې ټانکۍ ورچیته شوې وه او جالۍ یې هم زیانمنه شوې وه خو نور روغ و، بیا مې پرې زور وواهه خو سر یې ونه نیوه، ټولو

ملګرو پرېږ په نوبت خواري وکړه خو چالان نشو، لا مو هم درې دقیقې وخت درلود خو ټول ملګري د جنراتور له سټارټولو مأیوسه شول، بهار استاد وویل: الله ته به همداسې منظوره وه خواری مو ځای ونه نیوه، بس نن شپه نو نشرات پاتې شول،

وقار صیب یو ځل بیا جنراتور ته وروړاندې شو، جنراتور یې له یوه اړخه په دواړو لاسونو له ځمکې په دې هدف لږ اوچت کړ چې که تیل یې کم وي نو چې پایپونو ته خواره شي دا ځل یې چې تار کش کړ نو جنراتور د الله عزوجل په فضل چالان شو، تیل مو ورواچول او نشرات مو پیل کړل، ټول ملګري ډیر خوشاله شول،

نشرات چې ختم شول نو پترې سوځیدلې د تبۍ ډوډۍ مو د لوګو وهلو لوبیا سره وخوړه او بیا نو له لمانځه وروسته په زړو برستنو ورننوتلو، بسترې کمې او ملګري ګڼ ول خو ملګري د اسلام دوی خنګ ته لاړل.

## واورې، غرونه، زه او توحيدي

سهار چې راپاڅېدو او بهر راووتلو نو ښه د مزې واوروه وريدله په بهر بوشکو او نورو لوښو پنډه واوره پرته وه، تورې لړې وې او يخنی سمه خوله لګوله.

چې چای مو وڅښلې نو زه او توحيدي په نامه يو بل ملګری بايد ښکته شوی وای نو له ملګرو مو اجازه واخيسته چې مونږ به لاړ شو، که ناوخته شي بيا نه رسيږو،

ملګرو راته وويل :ورروه ايسار شئ الله به خير کړي ته نه ګورې چې واوره وريږي، سترګه په سترګه نه ښکاري هسې نه چې الله مکړه په دې حال کې لار ورکه کړئ نو د کوم مشکل سره به مخ شئ.

زما خو زړه و چې پاتې شم خو توحيدي شله و چې ځو له خيره، ډانګونه مو راواخيستل او راروان شولو، زړه لار نه ښکاريده ځو قدمه مو چې واخيستل نو شاته درب شو، چې ومې کتل توحيدي له خندا شين په واورو کې خرامانه پروت و!

د خوار چيرې په پښو وې، ورته ومې ويل چې ورشه د الله بنده د بل کوم ملګري بوټان راواخله، پدې زړو چيړو کې خو دا مزل نه کيږي!

ودريد واوره يې له ځانه وڅنډله، قاري صيب هلته خو هم يو د بهار صيب په پښو زاړه بوټان دي او هغه زما په پښو کې غټ دي او د وقار او هغه بل ملګري څپلۍ خو زما له چپلو بدترې دي.

په خندا مې ورته وويل چې زما بوټانو ته خو به دې سترګې نه وي خړې کړې؟!

موسک شو څه يې ونه ويل!

ښه شيبه مزل پس مې چې شاته وکتل نو توحيدي نه ښکاريده شيبه وروسته په لړو کې راښکاره شو، دده پښو ته مې چې وکتل نو د ګوتو سرونه يې تک سره اوښتې و، خپل بوټان مې ورته راوويستل خو چې زه شوم او که دا خو بوټان يې وانخيستل، آخر مې ورته وويل: ښه داسې وکړه زما يو بوټ ته واخله او ستا يوه چپړه ماته راکړه، له ټينګاره پس يې راسره ومنله،

په غورځو پرځو مخ ته روان وو واوره به کله دومره زياته شوه چې په ودريدو به يې مجبور کړو، چې ښه ټوټه مزل مو وکړ نو توحيدي دا ومنله چې سهو مو وکړه چې پدې حال کې راووتلو، څومره چې تللو نو وارخطايي، لوږه او يخني زياتيدله، يو ځای کې په ځان پوهه شولو چې لار مو هم غلطه کړې، داسې حال ته ورسيدو چې بيرته

ستنیدلی هم نه شولو، شاته پلونه مو هم واورو ډک کړي و، ډیر مزل مو کړی و او مخې ته هم مزل بې هدفه و له یوه غره ښکته کیدو او په بل پورته کیدلو،

نور مو نو ځواک ختم و چې ساعت ته مې وکتل دوه بجې وې.

هلکه دا خو ناوخته دی د الله بنده مونږ خو د ماسپښین لمونځ هم ندی کړی.

څه صلاتین به وکړو خو که اوس الله لار راپیدا کړي.

نور نو داسې حال ته ورسیدو چې توحیدي له خبرو هم پریوت، یو ځای کې همداسې کیناست،

قاري صیب زه نور قدم هم نشم اخیستی بیخي ستړی یم ټول بدن مې رپیږي.

له مجبورۍ ورته په خندا شوم.

پاڅه د الله بنده، ځوان زلمی یې، ناوخته دی دلته که راباندې شپه راغله نو مرو، هله ګرانه لږ همت وکړه پورته شه!

په شنه زور مې راپورته کړ، د یوه غره سر ته چې راپورته شولو نو بیا هم ګیر چاپیره تورې لړې او سپینې واورې وې، آخر درې بجې شولې

زه هم نور وارخطا شوم، خو توحیدي څخه مې خپله وارخطایي پټوله، ماویل چې اوس راته په ژړا نشي.

وروره نور نو یو قدم هم نشم اخستی، ته څه ما پرېږده.

والکه اوس خو نو مخ زوړې ده، د ماشومانو خبرې مکوه را اوچت شه، الله مهربانه دی دغه پورې کنډو ته چې وختلو نو ان شاء الله، الله به یوه لاره راکړي.

مونږ چې لاندې ښکته شولو نو بره کنډو هم پناه او وریځو کې پټ شو، توحیدي چې د عمر نه کم و آخر هم په ژړا شو، په واورو کې کښیناست لاسونه یې آسمان ته پورته کړل!

یا الله مونږ خو نور مرو، ته زمونږ مدد وکړه، ته مونږ ته لار راوښایه، ای ربه زه خو نور د یخنۍ او لوږې له لاسه قدم هم نشم اخستی!

زما هم نور دم ختلی و خو ورغلم او له مټه مې راونیوه، ته پاڅه وروورجانه!

هله کنه دې غره ته چې وختلو نو خامخا به ان شاء الله، الله راته لار پیدا کاندي.

یو سوړ اسویلی یې وکړ او راته ویې ویل: لکه چې لمونځ دې بیا هیر شو؟

هو والله دا خو ناوخته دی!

لږ وړاندې اوبه بهیدلې په ډیره سخته مو پرې اودسونه وکړل، په واورو کې مو د ماسپښین او مازدیگر لمونځونه وکړل، چې توحیدي ته مې وکتل نو په خواره خوله یې وویل: څه چې څو قاري صیب هسې نه تیاره شي او په بل مصیبت وانه وړو، کاشکې پاتې شوی وای، ریښتیا چې د مشرانو خبرو کې خیر وي د نن نه پس به زما یوه مشوره او خبره هم نه منې!

زه له ناکامه ورته په خندا شوم، روان شولو لار نه وه په کمرو بره کنډو ته په ډیره سختۍ پورته شولو نور ماښام شو لاندې ساحې نه ښکاریدې، مونږ یو بل ته په حیرانۍ کتل په مخونو مو خولې او د واورو اوبه گډې بهیدلې، نور مې نو توحیدي ته هم د ډاډ لپاره څه نلرل، یوه شیبه چوپ ناست وو چې د ماښام د اذانونو خواږه غږونه مو واوریدل، توحیدي په واورو کې الله ته په سجده پریوت، ما ورته وویل: ان شاءالله چې لاندې خامخا کلی شته، څه چې کوزیږو،

لاره نه وه، تیاره هم زیاته شوه او لړې نورې هم راښکته شوې په ښوییدو او غورځېدو مخ ښکته روان وو، نوره نو مکمله تیاره شوله، چې نور مو هم یوه ټوټه مزل وکړ نو ښه لاندې مو رڼا تر سترګو شوله، د همدې رڼا په طرف مو مزل جاري وساته د خیړیو اغزنې څانګې مو نیولې او په کرار کرار ښوییدلو،

څه به مو سر خوږوم آخر هم یوه کور ته ورسیدو دروازه مو چې وټکوله نو یو کس راووت په عمر پوخ سړی و، مونږ ته یې چې لاسي برق راواچاوه نو له حاله مو پوهه شو چې خلک پوره خراب دي.

اوهو، وروره تاسو پقت یو دوه ملټه صبر وکئ.

ننوت ریښتیا هم بیرته ژر راووت ویل یې راځئ! ورپسې شولو د کوټې دروازې ته یې زړه برستن اچولې وه، دوه پله دروازه یې خلاصه کړه، خیرنو ماشومانو په حیرانۍ راکتل، د بخارۍ څنګ کې په دسترخوان توره ډوډۍ او د وچو سابو کاسه پرته وه،

یوه ماشوم موقع مناسبه وګڼله او پخپلو چاودو غوښنو لاسونو یې د مستو کاسه په سر راواړوله او په ګریوان یې لارې لارې راخورې شولې،

پوهه شولو چې د سرې میرمن تازه له کوټې وتلې، مونږ په بخارۍ وروغوړېدو کور والا ماشومانو ته وویل بس دی بچو نوره ډوډۍ به بیا وخورئ، لوښي يې ټول کړل او د خیرېو لرګي يې بخارۍ پسې کړل،

ما ورته وویل: وروره تکلیف مو درکړ، بله کوټه خو به وي کنه، زنانه مو چرته بهر یخنۍ ته نه وي ولاړه؟!

هو! د هغې غم مکوه هغه آخوا زما د اوښي کور ده هلته لاړه.

ما او د کور والا خبرې کولې چې کټل مې توحیدي بسترو ته تکیه وهلې وه او خرامانه ویده و،

د کور والا ورباندې برسنن ورواچوله،

وروره دا کومه منطقه ده؟!

په خندا يې وویل دا خو د مامند تنګۍ دی!

څنګه تاسې لکه چې د بل ځای نه راغلئ؟

نه له بل ځايه نه یو راغلي خو لار مو ورکه کړې وه، مونږ خو د مامند لنډۍ کلي ته تللو خو سر مو دلته راووت، ته د همدې ځای يې؟

هو مونږ ځايي خلک یو،

دلته د مهاجرینو کورونه شته؟

هو شته خو پورې غاړې کې دي،

همدې خبرې سره کوربه اوچت شو، د لرگیو له تختې یې چاینک راکوز کړ او په بخارۍ تیار چایجوش جوشیده، د کټ لاندې بکس څخه یې له شنو چایو موټی راډک کړ، چای یې ورواچاوه، غوزان یې هم راواخستل.

ماویل: وروره دومره تکلیف مکوه.

په خندا شو، تاسې مساپر استئ په منږه ام حق دی، نور خوم څه د وسې نه کیږي دا خدمت خو به کوو کنه.

کوربه توحیدي وخوځاوه خو هغه داسې غرق ویده و چې بیخي په دږه نه اوښت،

وروره بس پریږده یې، خوار ډیر ستړی دی بیا به یې ډوډۍ ته راپاڅوو!

ښه دا راته ووایه چې د تنگي ټول ولس پروت دی څوک خو ترینه تللي نه دي؟!

هو شکر ټول په ځای دي،

تاسې لکه د لانديې ماندو اوسيدونکي، څنگه وتلي نه ياستئ؟

اغو خو پاڅون وکه د مجاهدينو زنانه او ماشومان يې شهيدان کړل کفارو سره يې لاس يو کړ او د مجاهدينو په خلاف يې وسله راواخيسته، په مونږه يې هم ډيره خواري وکړه چې تاسې هم راسره ودريږئ، دا پردي خلک دي چې ويې باسو، خو زمونږه مشرانو ورته وويل چې دوی خو مونږ سره کوم بد نه دي کړي، د الله لاره راته ښيي ولې به يې خلاف کوو؟

ښه ماشاءالله اوس درسره د مجاهدينو وضعيت څنگه دی؟

ياره ستاسې د مخ يې نه وايم، خو دا بيل ډول مخلوق ده، مجاهدين خو هغه مخکني هم و، خو په هيڅ شي يې ايله نه کوله، چرس يې څښل، سندرې يې اوريدلې، دلته به د رباب منگي سيل کيده هغې کې به آزادانه ناست ول، نه يې ستا له ځانځه سره کار درلود او نه مړي سره، چې هره ناروا به دې کوله واک دې خپل و، بس د ملکانو خلک و، د مظلوم ورځ بده وه، اوس خو الحمدلله داسې خلک راغلي چې ايله يې په دين باندې پوهه کړو، بده خبره به ترې وانه ورې، هغه ملکۍ او بدمعاشۍ ختمې شوې اوس نو د غريبو واک ده، ظلم، سود، ولور هره ناروا شکر بنده ده پنځه وخته جمعي دي او مونږ، بچو مو ايله الله

وپیژانده مخکې خو به تموله ورځ خرو پسې وو، اوس نو سبايي مکتب ته ځي او ماسپښیني د قرآن شریف له نامې جارشم سبق وايي، که ریښتیا راباندې وایې زما دادی څه کم یا څه باندې پنځوس کاله عمر دی مونځ مې سم نه و یاد، اوس خو لمونځ لا څه کوې شرک مو وپیژانده، طاغوت مو وپیژانده د ایمان په نقصاناتو پوهه شولو، څه به دې سر خوږوم خپله خو مې ورسره داسې طبعه لړیدلې چې مه یې کوه پوښتنه.

ښه ماشاءالله!

په خندا مې ورته وویل خلک خو وايي داعشیانو سپین ږیري په بمونو والوزول او ته لګیا یې دومره صفتونه یې کوې؟!

وروره زه خو هم سپین ږیری یم دا دی جک جوړ ګرځم، ماته خو چې هر مجاهد په مخ راشي دومره قدر مې کوي  چې والله چې خپلو بچو او وریرونو مې نه دی کړی، اغه چې په بمونو یې الوزول نو څه پسات به پکې و کنه.

لکه څه فساد؟!

مړه وركې كه، څه له مې خوله راسپړې، ټول یې اغه خلک په بمونو الوزولي چې د پاڅون نه الیده وركې نورې سل لوبې وې، ددې ځای اكثره خلک سوچه له خدایه منکر ول، همدا نشې تماشې وې، كس به یې راوتښتاوه ورور جانه وادې وریده بیا به ورسره بندي و په لكونو روپۍ به یې پرې اخیستې، سود دوی كاوه، وړكي دوی ګډول، چرس دوی څښل، لمونځ اودس خو یې د سره پیژانده هم نه، كله چې د خلافت مجاهدین راغلل نو ددې ملكانو او سپین ږیرو غوا وچه شوه دا هر څه پرې بند شول نو دوی خو ټول په مردارو عادت ول ایسته یې زما صیبه كافرو سره لاس یو كړ او مجاهدینو پسې یې پاڅون وكړ، د مهاجرو ښځې او ماشومان یې په چړو ووهل، د مهاجرو د ښځو بې عزتي یې وكړه نو داسې بې ډبه خلک یې چې په بمونو نه كښینولای نو ولې ګلونه یې په غاړه كې وراچولای وای؟!.

تاسو به وږي شوي یاستئ زه به ډوډۍ راتیاره كړم.

دې سره كوربه پورته شو او د لرګیو د غتې كارۍ څخه یې څه شی رااوچت كړ، شیبه پس مې د غوا د غوړیو مست بوی حس كړ، په بخارۍ یې توره كړایي سره كړه، له منګوټي یې غوړي وروڅڅول،

پاڅید او بهر ووت چې راننوت نو درې هګۍ یې هم لاس کی وې غوړي تیار سره شوي و،

ورور زړه خو مې ډیر څه غواړي چې درته برابر یې کړم خو خفه کیږئ به نه غر ده نو!

دې سره یې هګۍ یوه په بلې پسې د بخارۍ په څنډه ووهلې او غوړیو ته یې ورواچولې، خوږ بوی یې لوږه نوره هم رازیاته کړه.

توحیدي مې وخوځاوه: وړکیه جګ شه چې ډوډۍ تیاره ده!

په ډیره سختته راپورته شو.

شیبه پس په بل پاک دسترخوان د هګیو د کړایي سره یو ځای ډکه کاسه مستې او وچ سابه ایښي ول،

بسم الله کړئ!

مرچ خو نه خورئ؟

توحیدي په خندا ورغبرګه کړه زه یې نه خورم خو د قاري صیب خوښ دي.

کوربه: وچ دي نو شنه مرچ خو نشته،

زه: یاره دې وچو سبو سره وچ مرچ لا مزه کوي،

کوربه: سوکړک خو ښه زیات دي الحمدلله ستاسو که په طبع وي نو هغه به هم راوړم!

د الله بنده دې یخو مستو او سبو سره خو سوکړک لا مزه کوي!

څه به مو سر خوږوم ښه د مزې ډوډۍ مو وخوړه، ښه توده شپه مو وکړه او سهار د وخته ترې راووتلو، الله عزوجل دې دغه کوربه ته جنتونه ورکړي!

## زمونږ مظلومه راډيو، د امريکايانو بمباروونه او د طالبانو اتڼونه!

شپې او ورځې ډېر په خوند تيريدلې، واورې کلو ته هم راښکته شوې ماشومان ورته ډير خوشحاله ول، په لومړي ځل يې واوره کتله، مازديگر به مې ډلې ډلې ماشومان کتل چې ژيړې بوشکې به ورسره وې، له يوه لوړ ځايه به په بوشکه راسپاره شول او تر ډير لرې به وښوييدل، ځيني به وغورځيدل او دې سره به د خندا شور شو،

په واورو ويشتل او له واورو څخه د مختلفو شيانو جوړول د ماشومانو مشغلا وه، دوی د مختلفو ژبو، قومونو او سمتونو ماشومان ول خو اوس د اسلامي خلافت په يوه کلي کې سره کليوال ول،

ازبکي، فارسي، روسي، اردو، هندي، تاجکي، پښتو، گجري او نورو د گڼو ژبو ماشومانو به له يو بل څخه د يو بل ژبه زده کوله، دا به بيا ډيره خوندوره صحنه وه چې ټولو ماشومانو به په شريکه ازبکي يا پښتو ترانه زمزمه کوله.

ازبک ماشوم به چې پښتو ويله او يا به پښتون ماشوم ازبکي يا فارسي ويله نو ډيره مزه به يې کوله، د ماشومانو ترمنځ مينه محبت له لويانو هم زيات و، هغه مهال داسې عام بمبار نه و، ډرون به هدفي گوزارونه کول او چې کله به قوه راغله نو بيا به جيټانو خوا او شا درانه بمونه

غورځول او ړانده هوانونه به يې راويشتل خو د اسلامي نظام تر سيوري لاندې ژوند ډېر په خوند تيريده!

د راډيو په خپرونو کې د مثبت بدلون ترڅنګ د اسلامي خلافت صف پياوړی کېدل او د جوپې جوپې مهاجرينو راتګ دښمن دومره وارخطا کړ چې د امريکا د دفاع وزير ننګرهار ته په سفر مجبور شو!

يوه شپه چې راډيو د معمول مطابق نشرات کول مونږ د شيخ صيب عبدالحسيب تقبله الله پسې د ماسختن لمانځه ته ولاړ وو چې د څو پرلپسې زوروزو چاودنو غږونه مو واوريدل، د چاودنو غږونه دومره ترخه او درانه و چې له دې وړاندې مې نه و اوريدلي!

مونږ چې سلام وګرځاوه په زړه مې وخوړه چې ياره ممکن راډيو يې ويشتلې وي چې بهر راووتم نو د راډيو له طرفه سرې لمبې پورته کيدلې، ګڼ ځنګل اور اخيستی و، دې وخت کې له کوره ماشومانو رامنډې کړې چې د بمبار سره سمه راډيو بنده شوله!

هغه مهال شډل ته د امريکايانو په هوايي ملاتړ سنباله د امارتيانو، پاخونوالو او افغان مرتد حکومت شريکه قوه هم تازه راغلې وه، د شډل په کرکنۍ منطقه کې امارتي مليشو ښکاره خيمې ودرولې وې

سپین بیرغونه پرې رپیدل، په سل متری کې ورسره د حکومت پوستې وې یو بل ته به یې ښکاره په مخابرو کې ترصدونه ورکول!

امارتیانو هغه زیکویک چې ظاهر قدیر ورکړی و په یوه لوړ غره ودرولی و، د ظاهر قدیر په موټرو کې به ورته له ښاره پیک شوي خوراکونه راتلل، د اسلامي دولت په مجاهدینو به هر ډول طیارو دراندە بمونه غورځول خو د امارت سپینې خیمې او سپین بیرغونه به یې نه لیدل! دا یو څرګند حقیقت و چې د سیمې ټول اوسیدونکي یې شاهدان دي او په اجتماعي شبکو کې به هم تاسو ددوی د ائتلاف ویډیوګانې او عکسونه لیدلي وي چې د اسلامي خلافت په ضد یې لاسونه یو کړي و.

کله چې وروسته بیا د اسلامي دولت زمریو د احزابو دغه شریک خط ورمات کړ نو د کاروان په نامه د یوه قومندان په ګډون ګڼ امارتیان هم د دولت دزمریو لاس ته ژوندي پریوتل چې دغه بندیانو هم دا تائید کړه چې دوی ته د ظاهر په موټرو کې خوراکونه راتلل او پوستو سره یې ښکاره خبره وه، په یو بل یې کار نه درلود، دا دومره اوږده خبره دې پورې رایاده شوه چې هغه مهال کله چې راډیو وویشتل شوه نو د صابر په نامه د امارت یو لنډه غر قومندان چې ټوله

کورنۍ يې هم ښکاره په اخلاقي فساد مشهوره وه په مخابره کې په نورو امارتي چرسيانو زيري شروع کړل چې [ملګرو راډيو يې ورته وويشته، هغه دی څه خوندورې لمبې پرې بلې دي، زنده باد اشرپ غني زموږ د اکا زوی زنده باد اوباما، ياره اوباما منم دې]

د غم او انديښنې پدې مرحله کې مې ددې مرکب جاهل دې احماقانه خبرو ته خندا راغله، ملګرو راته وويل ښنګه دې وخندل؟ د صابر کوچي خبرو ته دې خندا راغله که ښنګه؟

هو وروره دا خلک په هيڅ هم نه شرميږي، څو ورځې مخکې د همدې احمق له شاهين سره په مخابره کې بحث و او ورته يې ويل چې (دې تاسو دايشيانو راډيو په جلالابات هوايي ميدان کې ده او اغه نظام همغلته په ميدان کې ورسره ده او پنځه زره ډالر معاش ورکوي)

زه شاهين سره نږدې ولاړ وم هغه راته وويل مړه ته خو ورسره يو دوه خبرې وکړه چې لږ خو خجالت شي چې ته هوايی ميدان کې يې که دلته؟!

ماويل ورک يې کړه که ورسره وغږيږم هم نه يې مني اوس به درته وايي چې دا له هوايی ميدانه درسره په مخابره کې را يو ځای شو!

راسره ملګرو ته مې وويل تاسو وګورئ دومره بې شرمه خلک دي تيره ورځ يې ويل چې راډيو د امريکايانو بيز کې ده او اوس دادی رمباړې وهي چې اوباما زنده باد چې راډيو دې ورته وويشته.

تر ناوخته له پورې غره سرې لمبې اوچتيدی، زه د راډيو وسايلو ته وارخطا نه وم چې له منځه ولاړل ملګرو ته مې انديښنه وه، هغه ملګري چې پدې شپه راډيو کې و هر يو به راته وار په وار مخې مخې ته کيدل او په ګڼ ځنګل لګيدلي اور کې مې په خيال کې ددوی سوځيدلي جسدونه لټول.

فکر يوړم چې د کفارو او طواغيتو د بيان د آزادۍ د ډنډورو سره بيا هم مونږ په ټنونو بمونو په نښه کيږو، عجيبه ده هغه فاسق او فاسد ژورنالېستان او رسنۍ چې د اسلامي امت د فکري انحراف لپاره شپه او ورځ کار کوي، پيسې او کيسې همدغه ملحدين او مستشرقين ورکوي خو مونږ چې د قرآن او سنتو په رڼا کې اسلامي امت خپلو مسئوليتونو ته متوجه کوو نو مونږ وژل کيږو؟!

له څو ملګرو سره يوځای بهر د يوه لښتي په غاړه د ونو لاندې ناست وم او دا زړه بوږنوونکې صحنه مې کتله چې يوه ملګري راغږ کړ!

عزام صیب هلته به یې په راډیوګانو کې په کارکولو او خبریالۍ ډالر درکول خو دلته دې په سرو لمبو سوځوي، لدې یې معلومه کړه چې ته په حقه یې او کافر دې په غصه کړي او کنه د نورو مبتذلو او ډمو راډیوګانو تر څنګ خو دوی سره هلته په طاغوت کې لسګونه تش په نوم اسلامي راډیوګانې هم په فعالیت بوختې دي هغوی ته خو پوره امکانات او پیسې هم ورکوي نو له همدې معلومیږي چې هغه د اسلامي راډیوګانو په نومونو جوړې راډیوګانې هم ددې طاغوتي مرتد نظام په جواز کار کوي او د همدوی ګټو ته ژمنې دي، د جهاد او قتال بحث به پکې وانه وري او نه به چیرته د اسلامي نظام او ډیموکراټیک کفري نظام په فرقونو او د کفارو په دسیسو او پلانونو کومه خپرونه څنې واورې بس د خیرات او اسقاط مسئلې او کیسې دي.

چې لدې دیموکراتیک نظام سره کار نلرې او  په لاس او ژبه یې مخالفت نکوې  نو بیا که ته هر څوک یې نو دغه ملحد وحشیان به ستا دوستان وي.

د ملګري زړه ډک و ډیرې پخې او درنې خبرې یې شروع کړې وې، هم یې پوښتنه کوله او هم یې بیرته ځوابوله، نوموړی چپ نشو خبره یې پسې وغځوله.

که د بيان او فکر د آزادۍ خبره وي نو مونږ ته دې هم د خپل فکر، عقيدې او بيان د خپراوي اجازه راکړي لکه څنګه چې دوی د خپل باطل دين د اشاعت او خپراوي لپاره په زرګونه رسنۍ او لکونه ګمراهان ګمارلي!

خو داسې نده هغه څوک چې ددوی ددغه منحوسو او نجسو پلانونو او څيرو څخه پرده پورته کوي نو هغه ددوی دښمن دی.

زه حيران هغه علماؤ نه بلکې عملاؤ ته يم چې په همدغه تلويزيونونو او راډيوګانو کې ناست وي د ديموکراسۍ په ملاتړ د اسلامي نظام په خلاف خبرې کوي او ځانونه مسلمانان هم ګڼي؟ افسوس ددوی په عقلونو.

ملګری ښه شيبه چاپيره و او زه ورته غوږ وم وروستۍ خبرې يې ماته په ډاډ او تسلۍ راکولو ختمې کړې.

ما ورته په پوره وياړ ورغبرګه کړه!

انجنير صيب دا د کفر او اسلام جنګ دی، مونږ لله الحمد ددغه سپيڅلې جګړې په اهدافو او اهميت پوهه يو، تاسې مطمئن اوسئ ان شاء الله د الله عزوجل په مدد دوی به لدې وروسته د خراسان له دغو

هیبتي غرونو داسې اعلامي او حربي گوزارونه وخوري چې ډیر ژر به باذن الله په گونډو شي، دوی په دغه بمبارونو او د ملگرو په شهادتونو مونږ له خپل روښانه مسیره نشي راگرځولای، دوی د دومره قوت په استعمالولو مونږ ته زموږ د کار اهمیت او ارزښت لا څرگندیږي او لا مو حوصلې لوړیږي.

تر ډیره ناست وو او د سپین غر په لمن کې د گڼ ځنگله څخه پورته کیدونکو لمبو ته مو کتل آخر ساړه زیات شول نو کورونو ته ستانه شولو، تر ناوخته ویښ وم د ملگرو غم مې خوب تښتولی و.

سهار له چایو وروسته حجره کې ناست وم، راډیو ته د تللو او د شهیدو ملگرو د خښولو په پلان او ترتیب مو مشوره کوله چې په دروازه هغه ملگری راننوت کوم چې د نورو څلورو ملگرو سره یو ځای یې په راډیو کې شپه وه، پښې ابله او تور سر و، تورې څنې او غټې بنورې سترگې په گردونو خړې وې بیخي مې دا فکر نه کاوه چې نوموړی به ژوندی وي، تر ډیره مې غیږ کې کلک نیولی و، چې کله یې ښه ساه صورت په ځای شول نو ویې ویل:

د نورو ملگرو په اړه راته معلومات نشته زه کوټه کې وم یو ملگری بهر ولاړ و او درې نور ملگري هغه پورې کوټه کې ول چې ناڅاپه

تهول غر سره لمبه شو او نور په ځان پوهه نشوم، د کوټې د یوه طرف کانې او چت راباندې راپریوتل، کله مې چې په ډېره سختته له ګټو ځان راوویست نو لورې لودن راځخه ورک و په ځای ددې چې د ناو په طرف راکوز شم د غره سر ته او هغه ځای ته چې آنتن ولاړ و وختلم!

دې کې بیا دروند درزار شو او زه ډیر لرې پریوتم، ښه څنډ پس مې بدن یخ شو او په ځان وپوهیدم چې په واورو کې پروت یم!

چې ځانته مې حرکت ورکړ نو روغ وم همداسې په تورتم کې په ناسته د هغې بلې کوټې ملګرو په طرف ور روان شوم، فکر مې کاوه چې هغه ملګري به جوړ وي او هلته به له یخنۍ پناه واخلم،

د څو دقیقو لاره مې په پوره یوه ساعت کې ووهله، چې هلته ورسیدم نو د کوټې په ځای ستره کنده وه او شاوخوا هغه ګڼ ځنګل نه و،

فکر مې کاوه چې غلط شوی به یم خو نور راکې د وړاندې تللو شیمه نه وه نو هلته د یوې ونې لاندې کښیناستم.

ملګري همدومره وويل او نور غريو ونيوه، پوهه شوم چې ټوله شپه يې د سپين غره په لمن کې د لوړ غره په واورينه څوکه ابله پښې او لوڅ بدن تيره کړې.

تر مازديګره پوره معلومات وشول چې په پاتې څلورو ملګرو کې دوه شهيدان او دوه نور روغ وتلي، حيران پاتې شوم چې د درنو بمونو له دومره سخت ګوزاره او د واورو له خونړۍ يخنۍ درې ملګري روغ راووتل!

پدې راز نو هغه څوک پوهيږي چې په مجاهدينو د مهربانه رب د سپيڅلي نظام د قيام لپاره شپې د ټول کفر او طاغوت په خلاف په سنګرونو کې تيروي.

څو ورځې پس چې د راډيو ځای ته وروختلم نو ټوله ساحه له پيژندلو وتلې وه هغه د نښترو او لمنځو غټې ونې چې له تنو يې د دوه کسانو غيږې نه تاويدې داسې يې ريبلې وې لکه لوښه، تر جريبونو پورې ساحه ټوله کنده شوې وه او ځای ځای د بمونو ټوټې او د سويو ډډونو سکاره پراته ول.

هغه مهال مې نور هم د الله سبحانه وتعالی په وحدانیت او مجاهدینو سره په نصرت ایمان مضبوط او پوخ شو چې کله مو له ویجاړو کوټو د راډیو وسایل روغ راوویستل.

ملګري ته مې وویل عجیبه ده په دې طوفان کې الله عزوجل درې ملګري ساتلي، وسائل مو راښکته کړل ځیني شیان یو څه زیانمن شوي و چې هغه بیا همدلته یوه انجنیر ملګري چې د بلې ژبې او بل وطن یو مجاهد ورور و د الله عزوجل په فضل ورغول او د یو څه ځنډ وروسته چې لا هم د اسلامي دولت ګڼو دښمنانو د راډیو د بمبار په خوشحالۍ جشنونه کول او په دې اړه یې په رسنیو کې په تکراري خبرو شخوند واهه ملګرو ته الله سبحانه وتعالی یو ځل بیا د راډیو د فعالیت توفیق ورکړ!

( ناشر: هغه شپه چې زمونږ مجاهد ورور د ملحدینو د الوتکو په اورونو او د سپین غر په مرګوني یخنۍ کې ابله پښې او لوڅ بدن تیروله لدې امت څخه به ډیر کم عقله لدې فکر سره په ګرمو بسترو کې پراته و چې داعش د امریکې پروژه ده، حسبنا الله ونعم الوکیل).

## حسان، محسن او راډیو له بمباره وروسته

داخل نو بهار استاد د راډیو نشرات خورا منظم کړل، نوې خپروني یې طرح او ډیزاین کړې، نشرات په مهالویش شول، د نشراتو آرشیف جوړ شو او د دري نشراتو لپاره خصوصي وخت ځانګړی شو.

دا ځل دښمن لا حیران شو چې د راډیو له بمبار وروسته هر څه لا منظم او منسجم شول، ملګري ټول خوشحاله ول، ځکه کارونه مو خورا په زړه پوري شول، هره ورځ مو په نویو طرحو او پلانونو کار کاوه.

یو ماښام ماشوم آواز وکړ چې بهر دې دوه کسان غواړي، چې له کوره راووتلم نو دوه ځوانان ولاړ ول، زما په لیدو په نه زړه رامخې ته شول نه ما وپیژندل او نه یې زه وپیژندلم، ستړې مشې مو سره وکړه، ځان سره مې حجرې ته پورته کړل، د ماښام له لمانځه پس مې په رڼا کې په راغلو زلمو سترګې ورخښې کړې دواړه ګلالي ځوانان ول، په بدن یې د لرې سفر اثرات له ورایه ښکاریدل،

یوځل بیا مې ښه راغلاست ورته ووایه، تکیه ګانې مې ورته سمې کړې او مخامخ ورته کښیناستلم.

ښه ګرانه وایئ کنه لکه چې له ښه لرې ځایه راغلي یئ!

هو له تأسیسې فارغ شولو او نیغ دلته راغلو،

ښه ماشاءالله، د تأسیسې دوره مو څنګه وه؟

ډېره خوږه او ګټوره وه!

نور ملګری مې چپ و او دغه دوه راغلو ملګرو ته یې په دقت کتل!

میلمنو شیبه پس له خبرو وپیژاندم یوه یې چې نری سوچه ږیره یې له غټو عقابي سترګو سره ډېره ښه ښکاریده راپاڅیده، کلک راغاړیوت او سم یې وژړل.

چې کښیناست نو سترګو کې اوښکې او په شونډو یې مسکا وه،

راته ویې ویل :زه دې وپیژاندم؟

یاره ډیر خوږ راباندې لګیږې خو ځای ته مې رانه وړې.

زه کلیم الله سبحاني یم!

د حصارشاهي یم او هلته مې درسره ډیر ملاقات شوی د قرآن کریم په ډېرو سیالیو کې مې درسره برخه اخستې!

ښه ښه بس ومې پیژندلې فیسبوک کې هم راسره ملګری وې.

احمد ملا شوخي وکړه: هلکه تاسي خو ډیر سره نږدې وختئ.

کلیم الله سبحاني به ښکته طاغوت کې ډېر زما خواته راتللو، هلته مې یوې راډیو سره د نشراتو د مسئول په حیث کار کاوه نو سبحاني صیب به اکثره په جوړو شویو قرآن کریم د حفظ او ترانو سیالیو او مشاعرو کې برخه اخیسته ډېر خوږ او زړه راښکونکی غږ یې و!

سبحاني مې ځانته راجوخت کړ، ښه ماشاءالله مونږ په آسمان غوښتې الله په ځمکه راکړې، دا بل ملګری هم راوپېژنه کنه؟

دا یوسف خادم نومېږي د بنګذار اوسیدونکی ده او ماسره کوز په یوه مدرسه کې و، زمونږ خو دا دوه میاشتې وشوې چې راغلي یو، لومړی تاسیسې ته لاړو، له همغه ځایه مو ستا درک په ډېره سخته پیدا کړ مونږ ویل ته به هم همدومره په سخته راته ملاو شې خو دادی الحمدلله ډېر آسانه مو پیدا کړې.

یوسف خادم تقبله الله بیخي خبرې نه کولې ډېره حیاء پکې وه، ما له سبحاني په ټوکه وپوښتل دا ورورک خو به مې ګونګی نه وي؟!

دواړو وخندل، نه الحمدلله، ستا مخکې خبرې نه کوي، عمر ته یې مه ګوره ښه تکړه عالم دی.

د شپې مو تر ناوخته ډېر خوږ بنډار وکړ، سبحاني د تاسيسې په دوره او د لارې په سفر کې ډېره خوندوره شاعري کړې وه هغه ټول شعرونه او ترانې مو دده په خوندور غږ کې په خوند خوند اورېدې او خبرې کېدې.

له همدې شپې نه مو سبحاني ته د راتلونکي لپاره حسان نوم غوره کړ.

**هو!**

دا هغه حسان و چې وروسته يې بيا دومره وياړونه ترلاسه کړل چې اوس هم د ډېرو په زړونو بادشاهي کوي، هغه حسان چې انقلابي ترانو يې د ويده اسلامي امت ځوان کهول د غفلت له خوبه رابيدار کړ، د حسان ارواپالو ترانو د سپين غر په هيبتي ناونو او مرګوني کمرونو کې د زمرو زلمو احساسات لا طوفاني کړل.

له دواړو مې اعلام کې د کار کولو هيله وکړه، دواړو ډېره په خوښۍ زما غوښتنه ومنله، مشرانو ته مې وړانديز وکړ چې دغه دوه ملګري ماته راکړي.

که څه هم اصول دا و چې د تاسيسې او تربيت له دورې وروسته که په هر موقف کې خلک وي هغه به لومړی کتيبو ته ځي، هلته به په

مخامخ نښتو او جګړه ایزو فعالیتونو او رباط کې څو میاشتې پاتې کیږي او له هغې وروسته به د هغه د وړتیا او مسلک له مخې هغه کس اړوندې ادارې ته معرفي کیږي، خو ما مشرانو ته د حسان په فی الحال اړتیا خبرې وکړې، الله عزوجل دې قبرونه له انوارو ډک کړي مشرانو مې خبره کوزه ونه غورځوله او حسان دوی یې په رسمي شکل اعلام ته رامعرفي کړل.

لدې وروسته به حسان او یوسف د نورو کارونو تر څنګ د نورو ملګرو سره یو ځای په راډیو کې تشکیل هم تیراوه، دوی هم ډیر زیات خوشاله ول او مونږ هم، د حسان خوږو شعرونو انقلابي ترانو د خیږې سیوري ته کښینولو او دا د عظمتونو او حماسو ډکه مشاعره مو هم پیل کړه، مشاعره ددې لامل شوه چې د محسن تقبله الله په څیر لعلونه هم له ایرو راووتل، محسن راغی، ساده سیده مؤمن و،

یوه ملګري راوپیژانده چې دغه ملګري له باجوړه هجرت کړی شبیر احمد نومیږي شاعري هم کوي، نن مې ستا ملاقات ته راوست، محسن سره مې چې خبرې پیل کړې نو همداسې ساده خبرې یې هم شاعري وه.

کله یې چې راته خپل هغه شعر چې د طوطي او د باز ترمنځ په خپلمنځي خبرو او مناقشه ییې لیکلی و ووایه نو تر ډېره چوپ وم.

دوی هم حیران و چې ځنګه نه غږېږم، زه د شعر ژورو ته کوز شوی وم ددې ساده انسان له خولې داسې لفظونه راوتلي و چې ما یې تصور هم نه کاوه!

پدغه له معنویته ډک نظم کې تقریبا د شعر ټول صنعتونه موجود ول، د شعر پیغام، ژبه، لطافت، جذابیت، تسلسل، تشبهات، استعارې او کنایې داسې وې چې د ستاینې لپاره یې له ما ټخه الفاظ ورک کړل، له ډېرې تودې مینې مې په تندي ښکل کړ: لیونیه ته دا دومره وخت کوم ځای ورک وې؟

په خندا یې یو ځل بیا راباندې د خوږو او زړه وړونکو لفظونو ګلونه وشیندل، زه خو پخوا ستا خواته راتلم خو ملګرو به ویرولم چې خواته مه ورځه، هسې نه کوم مشکل ورته جوړ نشي او بله داچې ما خو فکر نه کاوه چې ته به مونږ سره ناستې او صحبت ته وخت ولرې.

سترګې مې راډکې شولې، سینې ته مې راجوخت کړ، وروره زه ستاسې د پښتو خاورې یم، داسې هستۍ او ګلونه دلته شته او له مونږ ورک دي.

محسن مې وروسته هغه د چا خبره ټول د ځان کړ، کور یې هم زمونږ څنګ ته راوړ، ادارې ته مو راوخیست، د ادارې د خدمتونو تر څنګ یې د هر ملګري په خدمت کې ځان ستړی کاوه، د محسن د خدمت اخلاص او پاکو جذبو نا آشنا خاطرې دي.

په ناسته او مجلس کې یې ځانګړی کیف و، که به په څومره اوږده سفر ورسره روان شوې نو د ستړیا احساس به دې نه کاوه، که به دې بل چا ته د یوه درانده کار وویل نو هغه ملګری به یې په شنه زور کښیناوه او دا به روان شو، ځکه به مې نو چې کوم ځای ته سفر لرلو نو محسن به راسره و، محسن په رښتیا محسن و.

یوه ورځ مې په کمپیوتر ډېر مهم کار کاوه، دا راته ناست و زما لیکل او نور کار یې څاره، خوله یې له خندا ډکه وه په شونډو یې دعاوې وې، ورته ومې ویل: اخ محسنه کمپیوتر چارج خلاص کړ او کار نیمایي کې پاتې شو!

ولې دلته د چارج څه بندوبست نشته که څنګه؟

نه کنه!

محسن ځوړند سر او خفه له کوټې ووت، ما هم کمپیوټر بند کړ او په بل کار مصروف شوم، ډیر وخت پس مې چې پوښتنه وکړه چې محسن څه شو؟! نو ملګري راته وویل: هغه خو په دې پورې غره ورسم شو ویل یې چې کوره پورې ځم.

الله شاهد دی خفه شوم چې محسن څنګه داسې یوازې پریښودم او بې اجازې کور ته لاړ؟!

پوره دوه یا دوه نیم ساعته پس راغی، شنه خوله و، چې کټل مې نو سل امپایره بطرۍ یې په رسۍ کې شاته اوړو ته اچولې وه چې په سخته مو ترې راښکته کړه.

په خندا شو: هن دا فول چارچ ده، کمپیوټر ترینه چارج کړه دا څو شپې چې دلته یو ان شاء الله زمونږ ضرورت رفع کوي.

حیران ورته پاتې شوم، دادې له کومه ځایه راوړه؟

دا مې له کوره راوړه، نوره به دا بطرۍ همدلته وي سولر هم راوړم ان شاء الله چې دلته کله راتلو تیاره به چارج پرته وي.

د الله بنده دا تا څه د لیونو کانې شروع کړې چې تللې ماته خو به دې ویلي و کنه، اول خو دومره ضرورت نه و، که تللې نو خر به مې درته پیدا کړی و، په دې غرونو کې دې دا بطرۍ په شا رواړه الله دې په تا رحم وکړي خو کمپیوتر به دې لاندې کورونو ته ښکته کړی و چا به درته چارج کړی و!

سپینه خولۍ یې له سره لرې کړه د لاس په ورغوي یې د ټنډې خولې پاکې کړې او په خندا یې راغبرګه کړه: د سوال په اوبو ژرندې نه شو ګرځولای خپل شی خپل وي غم یې مه کوه.

محسن نو د اخلاص او نیک احساس لرونکی یو ساده مجاهد و، شاعرۍ کې یې بلا اغیز او راښکون و، هر نظم او شعر یې له بډایه پیغامونو او رنګونو ډک و، د محسن په شعر او د هغه تقبله الله د ویلو په انداز که خبرې وشي نو ددې کتاب یوه پنډه برخه به ونیسي که تاسي فقط همدغه نظم ته تم شئ او ژورو ته یې کیوزې نو ډیر څه به په کی وګورئ!

## شاهین او طوطي

بنده پنجره کې یو طوطي و د خانانو کور کې و

د یو بنګلې غوندې محل د نوابانو کور کې و

او له دنګو غرو نه پسې یو شاهین د منظرې په خاطر

او ددې بندي طوطي د ژوند د ننداري په خاطر

د پنجرې تر څنګ ډولۍ ډولۍ اوتر اوتر کښیناسته

او د دیواله د یوې بلې د بام په سر کښیناسته

شاهین طوطي ته ویل زه یم د مرغانو پادشاه

خاص د وړو مرغو د جمله پرندګانو پادشاه

وایه طوطي ستا د خدمت وړاندې هم حاضر یمه زه

ستا د هر رنګ پیغام منلو ته ځیر ځیر یمه زه

خو پدې شرط چې دا پنجرې په پنجو ماتومه زه

چې آزاد دې کړمه او چې د ځنګلو په سیلونو باندې ښاد دې کړمه زه

طوطي ویل شاهینه ته وایې غمخوار یمه زه

ووایه هر رنګ پیغام منلو ته تیار یمه زه

نو اوس غوږ کیږده زما لخوا هم پیغام واوره لږ

د زړه په غوږو سره زما کلام واوره لږ

اول خو دا چې د پنجرو زه ماتیدل نه غواړمه

او نه نه صاحبه د پنجرو له ژونده زه ازادیدل نه غواړمه

ځکه چې ته ددې پنجرو له ژونده څه خبر یې؟

بیا په پنجرو کې د مزو له ژونده څه خبر یې؟

یخې اوبه او خواږه جوس او شربتونه خواږه

فروټ میوه جات او رنګارنګ خوراکونه خواږه

د چلغوزو او د خوګانو او د غوزانو چغجې

او ورسره د ممپلو او بادامو چغجې

میده چڼې او امچورې څه چې بلا نورې مزې

پدې پنجروکې دي ټولې مزې او په زړه پورې مزې

او ای! پنجرې کې ما سره نواب او خان خبرې کوي

او ټول مالکان پخپل زبان ماسره خبرې کوي

او زه هم بیا دوی سره خبرې په حکمت کومه

په ترانو او نظمونو يې صفت کومه

واوره شاهینه په رښتیا که مې پیغام منې واوره

زما پیغام که په احترام منې نو واوره

دا دربدر ګرځیدل پریږده او پنجرو ته راځه

او نور بس د عیش او عشرت مستو منظرو ته راځه

دې آزادۍ کې څه فایده ده چې اوتر ګرځې

چې وږی تږی یې اکثر نارو نهر ګرځې

او تا نه خبریږم چې اکثر ته نهر ناست يې

او د لوږې تندې نه اکثر د بام په سر ناست يې

او زه دا خبرې درته کړم د نصیحت په خاطر

او دې پنجرو د ژوند د عیش او عشرت په خاطر

په تا خفه یم ځکه زه درته منت کومه

او ستا د مغزو په ناپوهۍ باندې حیرت کومه

شاهین ویل! بس که طوطي په فکر خام وختې

ته په غلامې زندګۍ مین غلام وختې

او تا د مرغو د آزاد فطرته زندگۍ خرڅه کړه

د آزادۍ لوی کبرجن تورن بدنام وختي

او روزي د هر زنده سري ده د چا په لاس کې؟

ته د لوی رب د هر نعمت نمک حرام وختي

نو بس چیرې ستا غوندې ذلیل سره کلام نکوم زه

بس ته نور غلام شوې یارانه زه د غلام نکوم زه

تا په بدل د ګېډې ورکړه آزادي پخپله

او داسې په ګېډه چې خرڅیږي ورته پام نکوم

او د آزادۍ په زړو ځالو کې خوشحاله یم زه

او د غلامۍ په محلونو کې آرام نکوم

او ته د مرغو د الوتلو طبیعت نلرې

هغه ضمیر او هغه وجدان هغه فطرت نلرې

هغه د الله په توکل ځي ماښام مړې رادرومي

او د الله په توکل د پروازونو ته همت نلرې

رازق خو رب ده ته د بل لاسو ته ولې کښیني

يې بې غيرته يو ذره ننګ او غيرت نلرې

او دا فکر هم نکوې چې زه يم يو آزاده مارغه

او تر شنو ځنګلو الوتی نشې قدرت نلرې

لږ فکر وکړه ظالمانو ته غلام جوړ کړې

او دې ظالمانو ته هم بيا ته چې ته قربان وايې

او ژبه دې هم بدله کړه اوس لا پسې په بل زبان خبرې کوې

او ظالم بادار ته کله صيب او کله خان وايې؟

دومره نادان شوې چې په يو موټی توبره غولېږې

او پخپله يې څومره نادان ماته نادان وايې؟

بادار خو پرېږده ته پخپله پخپل ځان ظالم شوې

او ظالمه ته په کومه خوله ځان ته ځوان وايې؟

او زه، زه که نهر يم نو له غرو سره ډغرې وهم

او د سپين غر د سر درو سره ډغرې وهم

زه که نهر يم نو له غرو سره ډغرې وهم

د بيابان دښتو ميرو سره ډغرې وهم

او د ورځې راکړي الله په مړه ګېډه رزق

او د شپې هم پرواااااز وکړم تیارو سره ډغرې وهم

او رب زه آزاد یم پیدا کړی غلامي نه منم

او لدې آزاااااادو منظرو سره ډغرې وهم

او ته که چنې خورې او بل ته جي قربان وایې

او دې مالک ته کله صیب او کله خان وایې

او بیا که چورې خورې بیا هم د بل غلام اوسیږې

او دې ظالمانو ته سرټیټی او لاس په نام اوسیږې

او بل کار دې نشته بس جي سر ټیک ده صیب او ټیک ده صیب

او تر غلامانو بدتر شپی او ورځ سلام اوسیږې

او دې ظالمانو په تا کومې کومې کانې وکړې؟

او ته بیا هم دوی ته چاپلوس لاس په احترام اوسیږې؟

او زه خو که وږی شم او تږی شم د الله په توکل

راباندې لوږې که هر رنګ دلۍ دلۍ راځي

خو زه عاشق یم او مین په آزادۍ باندې یم

او په مینانو خو هر رنګه پرکالۍ راځي

او کله باران ځپې ځپې مستې شیبې د چیتر

او کله د واورو سره دم په دم سیلۍ راځي

کله بادونه بادامې او طوفانونه راشي

کله جاکڼې او کله ګاړګیش او کله بډلۍ راځي

کله اندېک شونډېک تندري پړکی او کړسا رادرومي

کله مې سر باندې اوبه غولۍ غولۍ راځي

خو شکر بیا هم د آزادۍ مینه په زړه کې لرم

او پروا مې نشته که مې په سر باندې بجلۍ راځي

محسن په همدغه پورته یو نظم کې خبره خلاصه کړې وه او هر چاته یې خپل مسیر ور روښانه کړی، په دغه اروایال نظم کې یې د سپین غر په ناوونو کې د اسلامي نظام د قیام د لارې یو غازي یې له باز سره تشبیه کړې او د امریکا تنخوا خواره او چڼه خواره مرتد افغان فوځیان او دوی سره په واک وران ددوی د تره زامن طالب ملیشې چې

په غاړه کې يې د پاکستان، روس او ايران مهار پروت دی او د شرعيت د درواغجن شعار څخه په استفاده يې کلونه کلونه د ګڼو ځوانانو په احساساتو لوبې وکړې او د پرديو له ګټو يې ځار کړل، نو دغه لاسپوڅي يې ټول له طوطيانو سره تشبيه کړي چې څنګه يوه ډله طوطيان د امريکا په رنګين قفس کې له لاس او پښو تړلي، بې واکه د چڼو او بادامو په خوراک بوخت دي او بله ډله طوطيان بيا د اسلام آباد او کرملين په پنجرو کې د خپلو ضميرونو او ناموسونو په پلورلو بوخت دي.

محسن د باز او طوطي د ژوند او اهدافو ډير روڼ تصوير ويستلی، په ډير هنر يې د پنجرې او د سپين غر د هيبتي او اسمانڅکو کمرونو منظرکشي کړې، د طوطي او باز ترمنځ شوې خبرې په ډيره ساده، روانه، آسانه او خوږه ژبه راخيستي د باز د آزاد ژوند انځورګري په دومره ياغي او قوي تورو کړي چې د اوريدونکي او لوستونکي غوني ورته زيږه شي.

په هر صورت محسن ډير وخت د اعلام په مختلفو برخو کې په درنو او سختو کارونو بوخت و او خوشحاله هم و، په مزله کې ډير تيز و خو ماته يې غاړه ايښې وه يوه ورځ يې راسره په مزله کې ډير زور

وواهه خو رالاندې يې نه کړم، هغه هم عجيبه ورځ وه اوړی و، سامانونه مو په شا و، په يو لوړ کنډو دمه شولو، ماويل محسنه گرانه! ځو چې د سپين غره له څوکو تورې وريځې راغلې هسې نه باران مو راگير نه کړي او يا لاندې خوړ کې مو سيلاب مخه ډب نه کړي، موږ چې څو سامانونه شاته اچول او په ناو کې ښکته روانيدلو نو وريځې مو له سره تيرې شوې او شيبه پس غټو غټو څاڅکو د پراخه گټو مخونه ووينځل، موږ د يوه کمر لاندې کښيناستو، لږه شيبه له بارانه پناه شولو خو چې کتل مې نو له پاسه د پريمانه اوبو يوه زړوبې د محسن له سره خولۍ خطا کړه.

ورته ومې خندل: د باران نه راغلي يو او ناوې لاندې ناست يو، په منډه مو د کمر له غاړې ځانونه يوې اوچتې لارې ته ورسيخ کړل.

ماويل نور نه تم کيږو هسې نه لاندې خوړ کې مو سيلاب راچپه نکړي، د الله کړه و، څنگه چې خوړ ته ورسيدو نو ښه و سيلاب نه و راغلی، عادي اوبه پکې روانې وې په هغې پوريوتلو پراخه خوړ و چې منځ ته يې ورسيدلو او مخ بره مو وکتل نو يو خړ سيلاب لکه د ليونيو اوښانو غاړې تاوولې او په چټکۍ راروان و، موږ سختې ويرې او وارخطايۍ واخيستو، محسن ته مې ويل رامنډه کړه شابه! ان شاء

الله ترې وتلی شو، د محسن شاته سامان ګړبیدلو او په یو تراټ له ما مخکې شو، د خوړ غاړې ته ورسیدو لږه شیبه پس غرني خوړ له بره ګټې او د ځنګل ستې او لرګي ټول په یوه مخ راختي ول، او لکه قهریدلي ښامار له خولې یې زیږونه بادیدل.

شکر مو وویوست چې الله عزوجل له دغه خونړي سیلابه نجات راکړ.

ورته ومې ویل: محسنه عجیبه ژوند دی! هغه ستا خبره: کله اندېک، شونډېک، تندري پړکی او کړسا رادرومي - کله مې سر باندې اوبه غولی غولی راځي.

محسن وخندل، لمده خولۍ یې له سره لرې کړه او په خالي تندي لوند لستوڼی راکش کړ او په لړزيدلي غږ یې وویل: ځوانه یخني مې وشوه

ما ورته وخندل: څنګه دې په دې سرطان میاشت کې یخني وشوه؟

سر یې ټیټ کړ راچابک شو راته ویې ویل: بس په دې لار کې خو دا مزې شته.

موږ په یو بل پېچومي مره روان وو، له جامو مو اوبه څڅیدلې، باران ولاړ و، موږ چې د پېچومي سرته وختلو نو لمر هم خپلې تودې زرینې

وړانګې راولورولې، یوه شیبه ورته په یوه سپینه هواره ګټه خلاصې تنې ځملاستو، محسن راته د موسم او حالاتو په تړاو خواږه شعرونه ویل او زه په آسمان کې ځغلیدونکو وریځو ته ځیر وم.

## کروزونه، عام بمبار او وحشتونه

ژوند همداسې په خوند له رنګونو او انقلابونو سره پل په پل روان و، ورځ تر بلې د کفارو زور زیاتیدلو، د ډرونونو ګوزارونه زیات شول، په لومړي ځل مې د ډرون د بې رحمه توغندیو زړه بوږنونکی شور هغه مهال له نږدې واورید چې زه، ابو مسلم خراساني او صلاح الدین له یو غره راښکته کیدلو، د مامند سنځلۍ بازار ته چې رانږدې شو نو یو تیز شور مو له سره تیر او په بازار کې د یوې زورورې چاودنې غږ شو، دوړه پورته شوه چې کتل مو نو دوه تنه مجاهدین په خاورو خړ پراته و تقبلهم الله، دا لړۍ نو بیا تونده شوه، په بله ورځ د کار له ځایه کور ته په لاره وم چې زما څخه په لږه فاصله کې په آس سپور یو دولس کلن ماشوم یې وویشت په دا بله ورځ یې زموږ له کوره پاس یو دوکان وویشت چې د دوکاندار په شمول یې پکې لس کسه ماشومان هم شهیدان کړل، نور به نو هره ورځ د داسې ترخو پیښو

شاهدان وو، یوه ورځ له کوره راوتلم چې زموږ د کور مخکې په پټو کې په کار بوخت څلور تنه عوام یې وویشتل چې بیا په سبا یې د همدغه عوامو د فاتحی په مراسمو بمبار وکړ او یوولس تنه نور عام مسلمانان یې په شهادت ورسول دا پېښې دومره زیاتې شوې چې له شماره ووتلې؛ بازارونه، جوماتونه، کورونه او مدرسې په پوره سپين سترګۍ بمبارکړې په همدې لړکې د پېښې په کڅو سیمه کې یوه مدرسه بمبار کړه چې پکې د اووه څلويښت تنه ماشومانو په لاسونو کې سپارې او قرآنونه په وینو ولمبیدل، نه یواځې دا چې تش په نامه بشر پاله ټولنو، مدني شغالانو او ژورنالوستانو په دغه پيښه کومه غمرازي ونه ښوده بلکې د غرب په ونده څورب شویو مرتدو خبریالانو اعلان کړه چې د داعش په یو مرکز کې د بمبار له امله پنځوس تنه ځانمرګي وژل شوي چې بیا همدې مدني شغالانو دغه پیښې ته پرتوګونه ګنډل.

نور نو موږ دغو پیښو سره عادي شولو، روزانه به مو کله له کوم کور او کله له کومې مدرسې څخه د ماشومانو سوځیدلې جسدونه را ویستل عام بمبار شروع و خو نرۍ پرې چوپ وه، د ډرونونو او جیټانو په عام بمبار چې د اسلامي دولت د مجاهدینو حوصلې ماتې نه شوې نو بیا د کروزونو د راتوغولو سلسله پیل شوه په لومړي ځل یې

کوټ ته کروز توغندي راوویشتل بیا یې پرې مامند کې زموږ د اعلام مرکز وویشت خو لله الحمد ملګري پکې نه ول، فقط وسائل زیانمن شول، داسې ویل کیدل چې کروزونه د ملکونو تر منځ په جګړه کې استعمالیږي خو دلته یې د کروزونو استعمال دومره عام کړ چې که په خط کې به له کوم ځایه د اسلامي دولت کوم مجاهد د کلا شنکوف ډز هم وکړ نو له هغې لورې به یې په ځواب کې کروز راتوغول کیدل، په دریو کالو کې د مجاهدینو د اړوندې ادارې د احصایی له مخې د خراسان په دې څو غونډیو یې له درې زرو پورته هغه کروز توغندي راویشتلي ول چې یواځې په شپاړلس توغندیو یې له ټول افغانستان څخه د امارت واک ټول کړی و، دې ته وایي د الله مدد او استقامت، ان شاء الله تعالی!

کله چې د امریکا کروزونه هم بې تاثیره شول او د اسلامي دولت د زمریو زلمو حوصلې یې راونه غورځولې او بې ځایه یې د مجاهدینو په وړاندې د خپلې ټکنالوژۍ رعب ختم کړ نو بیا یې B52 ډوله طیارو خوله ولګوله، په خطونو او کورونو به یې ټنونه ټنونه بمونه استعمالول، دومره شور به یې کاوه چې غوږونه به یې کڼول، د

خراسان ټوله ساحه دومره وه چې دغه جنګي ستر جهاز به پکې نشو راتاویدلای.

خو د افسوس خبره داده چې د امریکایي درندګانو ددغه عام بمبار په ترڅ کې بیا هم امارتي لنډه غرو همدا نارې وهلې چې (داعش د امریکې پروژه ده) دوی ددغه زرګونو کروزونو او ټنونو بمونو په بمبار سترګې ړندې ساتلې، ښه به ورته د هر څه معلومات و خو بیا به یې هم پدې تکراري درواغو شخوند واهه.

د امریکا د شپږ اووه ډوله جنګي طیارو د عام بمبار په دوړو او لوخړو کې به مو ډیر کله د امارت د سفهاؤ دا تبلیغات هم اوریدل چې (امریکایي هلیکوپټرو مامند کې د داعش وسلوالو ته وسله او مهمات ښکته کړل) قبح الله وجوههم...

د دوی د رسمي ویاند په شمول د لوړ پوړو چارواکو له خولې مو هم دا بې باکه درواغ اوریدل، او له ډیره درده به ورته خندیدلو.

خو لله الحمد د امارت د مشرانو ددغه راز پوچو تبلیغاتو باوجود هم د فهم او انابت والا مخلص مجاهدین د امارت له لیکو راروان دي او د اسلامي دولت لیکو سره یو ځای کیږي، د همداسې کسانو په لړ کې

يوې پنځه کسيزې ډلې سره مې ليدل وشول چې تازه له امارته راجلا شوي او د امارت په خيانت او خباثت پوهه شوي ول.

يوه يې زما د پوښتنې په ځواب کې وويل: ياره امارت سره په لس کاله تيريدلو کله هم راباندې داسې سخت وخت نه و راغلی ، دلته اوسيدل خو په زوره مرگ ته غاړيوتل دي، ياره ددې ځای ژوند سل په سله ايمان غواړي دا څه حال دی دا؟!

همدا راز وروسته بيا د زندان يوه ساتونکي ملگري راته کيسه کوله چې درې تنه امارتيان راسره په گورگورۍ منطقه کې بنديان ول، اوړی و، بهر له زندانه لږ څنگ ته کروز توغندي ولگيدل، امارتي بنديان سختې ويرې او ډار واخيستل يو خوا او بل خوا يې په سينه کښيدل پيل کړل کله چې دوړه کيناسته او د امارتي بنديانو وارخطايي يو څه راکمه شوله نو له ما يې وپوښتل دا د څه شي بمبار و؟ دا خو ډېر خطرناک آوازونه و؟

نو ما ورته په بې پروايۍ وويل: دا خو امريکايانو له هوايي ميدانه موږ ته په کروز توغنديو کې مهمات راوليږل.

بنديانو سره يو بل ته وکتل او بيا يې سرونه ښکته کړل.

## د بمونو مور او د ایمانونو زور

د بمبارونو د دغه تسلسل سره به وخت په وخت سترې قوې هم راتلې او بیرته به د الله عزوجل په ځانګړي فضل مجاهدینو په تش لاس ماتولې، داسې مهال هم راغی چې د څو ډوله طیارو او کروزونو بمبار له بل هر وخته زیات شو او ورپسې په مجهزو اسلحو داسې ستره قوه راغله چې په تیر کې ساری نه و لیدل شوی، دغه په امریکایی زغروالو ټانکونو کې راغلیو زرګونو کماندویانو، ضربتیانو، امریکایانو، اربکیانو او پاڅونوالو راغلې قوه له هر ډول هوایي ملاتړ څخه هم برخمنه وه ددغه قوې په طاقت او تجهیز رسنۍ او ژورنالوستان لا له پخوا ډیر وغپیدل آن ټرمپ له سپینې ماڼۍ اعلان کړه چې په 2017 که به داعش مکمل په خراسان کې ختم کړم، خو د ټرمپ نر ښځي غلام (اشرف غني) بیا د خپل بادار ټرمپ څخه هم تمه زیاته وه او ویل به یې چې دا ځل به نو داعش په میاشت کې دننه نابود شي، کله چې دغه وحشي سیلاب په ډیر شور او غرهار سره مخکې راغی نو په شډل کې د انغماس د کمرو سره ولګید او په ځای ودرید، راغلې قوې تمه لرله چې په میاشت کې دننه به د مامند په تنګي ورننوځي خو ایله په څلورو میاشتو کې د بمونو د مور په

استعمال يې يو کيلو ميټر لار ووهله او سر يې د سختو تلفاتو په منلو سره د اسد خيلو په تنګي رادننه کړ، مخکې به ورته فقط څو تنه انغاماسيان وچه ډوډی تر شا تړلې د يوې ماتکۍ کلاشنکوف او زنګ وهلي راکټ سره ناست ول، دوی به لومړی په ټنونو بمونو اورولو ځانته مخه هواره کړه او بيا به يې د حرکت کوشش وکړ خو مجاهدين به ورپسې له هغه سمڅو چې په ځانګړې تکتيک يی هر يوه ځان ته په انفرادي شکل جوړې کړې وې راوتل او د راغلې قوې پښې به يې ولړزولې، په دغه حيرانونکي مقاومت کې ډيرې نا آشنا او نادرې کيسې واقع شوي، د الله عزوجل ښکاره مددونه مومنانو په خپلو سترګو ليدلي، داسې واقعات پيښ شوي چې اوس يې شايد څوک په بيانولو موږ ته ډول ډول ګومانونه وکړي او ګڼ خلک يې منلو ته تيار نه شي دا کيسې به ان شاءالله که ژوند و نو په مناسبه موقع په يوه بله لړۍ کې ذکر کړو.

په هر صورت کله چې مقاومت سخت شو او راغلې قوه د مايوسۍ تر درشله ورسيده نو امريکا مجبوره شوه چې د مجاهدينو د مرعوب کولو لپاره يې خپل تر ټولو ستر بم د بمونو مور استعمال کړه، ماسخوتن و زه د مامند په لنډۍ کلي کې وم او د بمونو مور په اسدخيلو

تنګي کې وچاودیدله چې تقریبا ترمنځ مو دوه یا دوه نیم کیلو میټره فاصله وه.

د کوټې کړکۍ ته پلاستیک لګیدلی و، لومړی بهر رڼا شوه او بیا د کوټې پلاستیک د یوې چاودنې د غږ سره وپړقیده، موږ د جیټانو د بمبارونو سره عادي شوي وو او دا مو هم عادي بمبار وګاڼه د نورو بمونو سره یې موږ کوم توپیر محسوس نه کړ، ملګرو سره مو خپل کار ته دوام ورکړ، شیبه پس زه خپل کور ته راغلم او بې غمه ویده شوم، د سهار له لمانځه وروسته د والي صیب شیخ عبد الحسیب تقبله الله رابط په مخابره کې آواز راکړ او خپل مخصوص نمبر ته لاړو، والي صیب و:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، عزام جانه شپه مو څنګه تیره شوه، کور ته خیر دی؟

د سلام ځواب مې ورکړ الحمدلله خیریت دی شیخ صیب تاسي څنګه یاست؟

شیخ صیب له نورو خبرو وروسته راته وویل: خبر خو یې کنه؟

له څه نه شیخ صیب کومه نوې پیښه شوې؟

شيخ صيب په ډيره خوړه خندا چې درد په کې نغښتی و راغبرګه کړه: هئ ناخبره بيګا درباندې امريکايانو د بمونو مور استعمال کړې او ته لا خبر نه يې، ماويل موږ به تازه مالومات له تا حاصل کړو.

الله شاهد دی لږ خجالت شوم خو موږ چرته شيخ صيب پسې رسيدلی شوو، هغه به شپه ورځ ډير کم خوب کاوه هر څه يې مستقيما خپله څارل په داسې حالاتو کې به خپله خط ته تللو، عجيبه هستي وه!

آخري خبره يې وکړه: موضوع درسره تعقيب کړه نور نو خپله پوهيږې.

ما ورته وويل: بې غمه شه شيخ صيب تاسو مطمئن اوسئ.

مخابره مې لاس کې وه همداسې سر تور سر له کوره راووتلم، چې کتل مې نو زيد تقبله الله راډيو په لاس د حجرې په دروازه کې ولاړ و، سلام مې وکړ، وروره څنګه چل دی؟

د سلام ځواب او لاس يې غبرګ راکړ، ويې خندل موږ خو له ځانه هم نه يو خبر او راډيوګانو کې يو طوفان دا رالوتې چې داعش مکمل ختم شو د بمونو مور يې پرې استعمال کړې.

ښه څه مواد دې برابر کړي که نه؟ چې راپور پرې برابر کړو.

هو الحمدلله ټول راپوروونه مې درته رېکارډ کړي، ته خپل مالومات راجمع کړه.

له زید نه مې مننه وکړه، ښه ماشاءالله ته دغه ټول مواد زما کمپیوټر ته واړوه، زه لاندې خط سره رابطه کوم ان شاء الله.

هغه مهال راباندې د خپل امنیت د ادارې له لورې دومره قیودات او محدودیتونه نه و، آزاد به ګرځیدم او په مخابره مې هم آزادې خبرې کولې.

په مخابره کې مې چې د خط په ملګرو غږ وکړ نو زما د غږ سره سم، ګڼو مجاهدینو راناري کړې!

ابوهریره آمر صیب.

عزام صیب.

خو ما ملګرو ته غږ پدې خاطر ونه کړ چې که یو ځل ملګرو سره په خبرو بوخت شم نو اصلي مقصد راڅخه پاتې کیږي، ملګري انتهایي مینه لري، چې هر ځای مې ومومي نو بیا ترې خلاصی ناشونې وي.

له خط څخه مولوي صیب حذیفه آواز راکړ.

ما ترې د بمونو د مور په اړه وپوښتل چې تلفات لري او که نه؟ او له تاسي په څومره فاصله کې پریوته؟

مولوي صیب راته وخندل او ویې ویل: زه چې د میډیا شور اورم او بیا د بمونو د مور زور ته وګورم نو ته باور وکړه موږ داسې احساس کړه لکه د غرني هوان ګولۍ چې لګیدلې وي، موږ د بم غورځیدو سره بیخي په کمه فاصله کې یو، الحمدلله هیڅ ډول تلفات نه لري بیخي د ملګرو نوک هم ندی خوږ شوی.

مولوي صیب د بمونو د مور استعمال د مجاهدینو د مورال د لوړوالي لامل وباله او زیاته یې کړه چې مجاهدین بیخي داسې احساس نه کوي چې ګوندې د بمونو مور پرې استعمال شوې.

د مولوي صیب سره له خبرو پس مې د خراسان د امیر الحرب شیخ صیب ابوسعید تقبله الله سره خبرې وکړې چې نوموړي هم ډاډ راکړ او د بمونو د مور استعمال ته اړ کېدل یې د دښمن ستره ناکامي او ددوی د ټکنالوژۍ د طلسم ماتیدل وبلل.

لنډه دا چې تر لسو بجو مو د بمونو د مور په استعمال په پنځلسو بیلابیلو واکس پاپ (اړونده غږونو) مشتمل نیم ساعته څیړنیز راپور چمتو کړ.

په هغه ورځ زه د الله عزوجل ښکاره مددونو ته ګوته په غاښ حیران پاتې شوم چې څنګه په دومره لنډ او تنګ وخت کې په دومره نشتو امکاناتو او جګړئیزو حالاتو کې موږ ته د دومره یو مدلل هر اړخیز راپور د چمتو کولو توان راکړ؟

ماته د دومره کار زور معلوم و، کله چې طاغوت کې وم نو د یوې ادارې سره د څېړنیزو راپورونو ایډیټر وم، دا تاسي ته چې کوم نوم وتې ژورنالستان ښکاري د دوی ډیرو به یې راپورونه د ایډیټ او تصحیح لپاره ماته را استول زما له منظوري پس به ترینه اړونده ادارې راپور قبلولو، دا خبره دې پورې رایاده شوه چې همدې ژورنالستانو دغه راز یو راپور، سره د هغه راز امکاناتو په لسو ورځو کې هم نه شو برابرولای، زه چې کله اوس دغه خبریالانو ته ژور نالوستي وایم نو ماته یې علمیت او استعداد معلوم دی او له هر چا زیات یې په اعمالو او اهدافو ښه مالومات لرم.

ښه دغه راپور خو د ورځې تر لسو بجو چمتو شو، اوس به یې نو راډیو ته د بیګا لپاره نشر ته څنګه رسوو، ځکه پوهیدم چې ټوله غربي اوشرقي نړۍ او رسنۍ زموږ غبرګون ته بیګا په تمه دي، هغه

مهال زموږ له کوره راډیو ته لس ساعته لار وه، نشرات هم د شپې په اوه بجې پیل کیدل.

موږ خو لکه د امارت د ویاندویانو او مطبوعاتیانو نیټ او مبایل ته هم لاس رسی نه لرلو ځکه چې ددې هر څه په استعمال په کراتو ملګري په نښه شوي ول، د امارت اعلامیان خو موږ ته د امریکا پروژه وایي خو خپله تلویزیونونو سره برالا مرکې کوي، له راډیو څخه د رابطې لپاره نمبرونه اعلانوي، چینلې او سایټونه یې له کلونو کلونو بې د حذف کیدو له ویرې فعالیتونه کوي خو یوه بلا یې هم نه وهي خو موږ بیا پدې اړه د دومره سخت فشار لاندې یو چې وروسته به یې ان شاء الله عملي بېلګې درته وړاندې شي.

په هر صورت راسره له ناستو ملګرو مې وپوښتل مزل کې څوک چالاکه دی؟

ټولو وویل: محسن.

خو غم دا و چې محسن ته د راډیو نوی ځای نه و معلوم،

دویم ورپسې ملګرو حسان تقبله الله راپه ګوته کړ.

حسان هم لکه برچه پک عسکر په خپل ځای ودرید ورته ومې خندل: هلکه حصارشاهیواله! نشراتو ته وخت ۹ ساعته پاتې دي او لار لس ساعته ده، دا به څنګه شي؟

په خندا یې راغبرګه کړه هغه خو د احمد ملا او د شفق په څیر د لټانو لس ساعته لار ده، دوی خو یو ساعت مزل او نیم ساعت دمه کوي، دمه به نه کوم ان شاءالله وختي رسیږم.

فلش مې ورکړ.

په ناسته یې د سپینو سلوري بوټانو مزي ټینګول په موسکه خوله، له شرمه په ډکه لهجه یې راغبرګه کړه: مشره که راپور مې ورساوه د الله په فضل سره، نو انعام به څه وي؟

ملګرو شور ګډ کړ چا ویل دا ورته واخله او چا ویل دا.

خو ما وویل: هلکه تاسې غلي شئ ماته دده انعام مالوم دی، واده غواړي واده.

حسان رومال له خولې تاو کړ او په تلو کې وویل: قربان مې له هوښیارانو کړې، سلام یې وکړ او ووت، ملګري ټول په خندا شول!

تر ماښامه مې کفري میډیا تعقیب کړه د بمونو د مور موضوع ډیره ګرمه وه اکثره مرتدین او منافقین د کفري رسنیو د اغیز له امله خوشاله ول چې ګوندي د بمونو د مور په دغه یو بم به ریښتیا د اسلامي دولت ټول مجاهدین او مهاجرین له یوه مخه وژل شوي وي.

خو زه له دې هر څه بې پروا د خپلې راډیو شپنیو نشراتو ته په تمه وم چې ځنګه به شي راپور به رسیدلی وي او که نه؟ له هرې راډیو مې هم دا اوریدل چی داعش وسلوالو تر اوسه په دې اړه کوم غبرګون نه دی ښودلی، زړه کې مې ویل ځه که الله کول زموږ غبرګون به مو زړونه دروچوي باذن الله القهار خو چې راپور ورسیږي.

زړه کې مې همدا کرل ریبل چې د خلافت غږ راډیو نشرات پیل شول، په پوره اوه نیمې بجې خلافت غږ خبري ګړی زیګنال شروع شو او وریسې راپور په ډیر خوندور انداز نشر شو، حسان تقبله الله ته مې له خولې بې اختیاره دعاګانې ووتلې شکر مې وویست چې ای الله څه سرښندونکي مخلص ملګرې دې راکړي، الله مو غم مه راښیه!

شیبه پس مې چې غربي رسنۍ بیا تعقیب کړې نو ډیرې هغوی زموږ د راپور په استناد په خپلو راپورونو کې په دې ناخوښي ښوده چې څنګه دومره ستر بم هیڅ ډول تلفات نه دي اړولي، لله الحمد زموږ

راپور په واقعیتونو بناء و، دوست او دښمن ټولو ته یې دا قناعت ورکاوه چې واقعي دغه ستر بم کوم زیان نه دی اړولی.

کله چې په ورځو ورځو ټولې شرقي او غربي رسنۍ د بمونو د مور په اړه وغیږدلې نو امارتیانو بیا دغه کړنه اسلامي دولت ته په کمپاین توجیه کړه او په ډیره بې شرمۍ یې دا تبلیغات پیل کړل چې امریکا د بمونو د مور په استعمال د خلکو له ذهنونو دا وباسي چې ګوندې داعش د امریکا پروژه نه ده او له دې لارې داعش ته د جلب او جذب کمپاین کوي.

افسوس د امارتي سفهاو په عقلونو!

دوی په دغه راز پوچو تبلیغاتو د عیني شاهدانو له سترګو د زرګونو کروزونو او بمونو امریکایی بمبار پټوي چې د اسلامي دولت په تمکین یې اوروي، دوی به په موصل او رقه کې د امریکا په وړاندې د اسلامي دولت د غازیانو حماسه زیږونکې تاریخ څنګه پټ کړي؟!

ای امارتي جهلاؤ!

یواځې په موصل کې پنځه دیرش زره بمونه په چا راووریدل او چا یې په مقابل کې د وینې تر آخري څاڅکي مقاومت وکړ؟! موتوا بغیظیکم.

په هر صورت د بمونو د مور استعمال د لکونو خلکو له سترګو د آی ایس آی د مزعوم امارت له لورې ایښودل شوې د شک دا پټۍ چې اسلامي دولت د امریکا پروژه ده لرې کړې او دغه منفوره او منحوسه اسلام بدنامونکې ډله خلکو په خپل اصلي شکل کې وپیژنده.

## د مهاجرو خویندو صبر، ثبات او ایماني جذبې

د امریکا په مشرۍ د احزابو راغلي لښکر سخت زور لګولی و او غوښتل یې چې په هر صورت مامند ته راداخل شي، بمبار دومره زور واخیست چې نور پرې حد تمام و، کفارو به په اونۍ کې تازه دمه ډلګۍ رامخ ته کولې، خو دې لور ته یې مخ ته نهر او سرتور سر، شلیدلې پلاستیکي څپلۍ په پښو د خیر الرجال ابوبکر کتیبې څو تنه غازیان ګونډه شوي و، د راغلي قوي شپېرمه که اوومه میاشت وه چې د مامند پل ته راورسیده دغه پل د اسدخیلو په تنګي کې ده، دلته رارسیدل یې د سر او مال په درانده زیان تمام شول، خو هغه هم عجیبه ورځ وه، په کورونو او کوڅو کې د تکبیر نارې وې، له هر انګړه د دعاګانو او ژړاګانو چیغې اوریدل کیدې، په هره دروازه کې به یو چانټه ترلې څنور غازي ښکاریده چې خپلې کورنۍ ماشومانو او مؤمنو تور سرو سره به یې الله په اماني کوله، عجیبه کیفیت و، ډلې ډلې غازیان خط ته روان و، مازدیګر و، زه د یوې ونې لاندې ددغه غازیانو په تماشه بوخت وم، د اسلام هغو لمړنیو وختونو ته یې بوتلم، ټول روان و، خو ماته خط ته د تللو اجازه نه وه زړه مې راډک شو هوانونه او بمونه لکه باران

راوریدل، ځای ځای ملګري شهیدانیدل او نورو ملګرو به په وینو لوند په همغه ځای خښول په ډیر تکلیف کور ته راستون شوم.

چې کور ته راننوتم نو د کور والا لاس کې مې خط و، سباؤن او امید یې خنګ ته ولاړ ول، خط یې ورته لوسته، زه یې چې ولیدم نو میرمن مې رامخکې شوه او راته ویې ویل:

ای! خیر دی زه به هم دې جینکو سره خط ته لاړه شم.

ورته مې وویل: څه کیسه ده؟ جینکۍ چیرته دي؟

میرمن مې خط راته ونیوه ویې ویل: دغه پاس کورونو جینکو درته دا لیک رالیږلی، خط ته د تللو اجازه غواړي.

ما ورته وخندل زه خو څه د خط آمر نه یم چې له ما اجازه غواړي، زه خو خپله اجازه نه لرم.

کور والا مې لږه په قار شوه: څه خواره تانه یې اجازه نه ده غوښتې ویلي دي چې د شیخ صیب نه ورته اجازه واخلې.

خه نو داسې ووایه کنه.

زه نو په خط څه پوهیږمه خو سباؤن راته ولوسته، ښه ما ورسره پریږدې که نه؟!

غريو ونيوم او ورته ومې ويل: ليونۍ تاته خو د کلاشنکوف د ډز چل هم نه درځي، ته به هلته څه وکړې.

موسکه شوه: خير دی مجاهدينو وروڼو ته خو پټۍ تړلی شم.

نورې مې نو اوښکې تم نه شوې کړای، د خپلې ميرمن په سر مې په زوړ پيوندي ټيکري سترګې ونښتې، تيرو وختونو ته يې بوتلم.

هغه ښځه چې د لباس او سيالۍ نوم يې و، له جنګه يې کرکه وه او له ډز ځخه دومره ويريدله چې هلته د کلي ښځو به ورپسې خندل، نن دلته د ټول کفر د درنو بمونو په باران کې لکه د استقامت د غره په څير ولاړه ده او لمړي خط ته د تللو ضد کوي.

ريښتيا هم چې ماحول تاثير لري او بيا د دارالاسلام ماحول.

ټيکرۍ مې ورته په سر سم کړ: تاته لا ضرورت نه شته ګرانې، ستا په زرګونو وروڼه لا ژوندي دي.

ميرمن مې چې زما سترګو کې اوښکې وليدې نور يې نو خبره ونه غځوله.

زه کوټې ته ننوتلم، خط مې خلاص کړ.

زموږ په ګاونډ کې ګڼې لوستې خویندې اوسېدلې خو څو کسانو یې یو څه وخت کېده چې هجرت یې کړی و، په دغه انجونو کې یوه یې د کوم پوهنتون د ادبیاتو له څلورم ټولګي راغلې وه.

خویندو لیکلي و:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ورورو الله تعالې دې د ټولو مجاهدینو ورونو سره ساتنه وکړه، زموږ یو پیغام دی او ستا نه غوښتنه کوو چې شیخ صیب ته یې ورسوې، موږ چې دلته هجرت کړی او هلته مو ډک کورونه پرېښې پدې منظور چې دلته به د خپلو مجاهدینو ورونو سره یو ځای سنګر ته ځو خو دلته چې راغلو نو تاسو د کورونو بندیانې کړو او فقط دعاګانې کوو او دا دعاګانې خو مو له ښکته هم کولې شوې، اوس چې کفارو سخت زور بناء کړی او هره ورځ زموږ وروڼه په شهادت رسوي موږ هم نور ووځو او جهاد کوو، اوس داسې حال دی چې موږ ته د ورونړو ضرورت دی، حالات سخت دي موږ به کله ستاسو په کار راځو، که کورونو کې یو نو هم کافر راباندې زړه سوی نه لري بمبار راباندې کوي او وژنې مو، ولې نو په سینه مرمۍ ونه خورو، موږ نن ماسپښین له خپلو بامونو د جګړې د اول خط دوړې وکتلې او

هلته ور روان مجاهدین مو وکتل چې څنګه په لارو کې د بمونو په واسطه ټوټه ټوټه شول، موږ ته نو نور کور کې پاتې کېدل بېغیرتي ښکاري د الله لپاره شیخ صیب ته ووایه چې موږ ته اجازه راکړي.

عزامه وروره موږ ستا د عاجل ځواب په انتظار یو!!.

خط اوږد و، هره فقره یې لکه تیره غشی له سینې بوټ خاته، په چیغو مې ورته وژړل، په لاس کې نیولې کاغذ مې اوښکې څڅیدلې چې میرمن مې چاینک په لاس راننوته.

ولې ژاړې ؟

په شرافت دوی خو به څه نه وي شوي؟

د ځواب توان مې نه لرلو او ورته ومې ویل: نه شکر هغوی روغ دي خو چې د کانې زړه ولري نو هم دغه خط ته به وژاړي، ته ورشه زما مخابره راوړه.

شېبه پس یې مخابره راوړه د شیخ صیب رابط مې راپیدا کړ او له لږ انتظار پس مې د شیخ صیب زړه وړونکی او غمجنو زړونو ته تسل

ورکونکی خوږ غږ واوریده، له سلام کلامه پس یې وویل: وایه کنه عزام جانه خیر خو و؟

شیخ صیب یو څو خویندو یو لیک رالیږلی او له تانه خط ته د تللو اجازه غواړي.

ښه ماشاالله ته یې راته لږ ولوله؟

لیک مې ورته د اوښکو په بدرګه ولوست.

له هغې خوا تر ډیره خاموشي شوه، دومره ډیره چې ما فکر کاوه شیخ صیب له رابطې ووت خو چې ښه ځیر شوم نو خپې سلګۍ مې اوریدلې، دغه وخت د شیخ صیب له متانته ډک غږ راغی.

دغه مؤمنو خویندو ته زما سلامونه ورسوه او ددغه سپیڅلي احساس قدرداني یې وکړه او ورته ووایه چې لا خو ستاسی زرګونه ورونه ژوندي دي، تاسي چې د خپلو بچو سالمه پالنه وکړه او خپلو ورونړو ته مو شاجورونه ډک کړل او ګردنۍ مو له ملاګانو وروتړلې نو دا ډیره ده.

بس عزام جانه خپله پوهیږي داسې ځواب ورته ولیکه چې دا خویندې مایوسه او خفه هم نه شي او زړونه یې هم مات نه شي.

خویندو ته مې بیرته اوږد ځواب ولیکه او وروامې ستاوه.

خو ددغو غیرتمنو او اتلو انجونو لیک په ما دومره اثر وکړ چې دستي مې کمپوټر راواخست او دغه لاندې لیکل مې د زیګنال په شکل وکړل!

(د نړۍ پر بام یو ځل بیا تور بیرغ خپلې وزرې وپړقولې،

د خراسان مقدسې خاورې ته یو ځل بیا د اسلام لښکرې راغلې،

تر اخیره...... )

هیله ده چې همدغه زیګنال همدا شیبه واورئ، ځکه چې دا دداسې پرکیفه حالاتو زیږنده ده چې اوس یې تصویرول زما په وس کې نشته، ددغه زیګنال په اوریدو به همغه حالاتو ته ستانه شئ، ان شاء الله.

**د اولې برخې پای**